

اسلام کښي د خدمت خلق اهميت ، په موجوده
دور کښي دَ خدمت خلق ضرورت ، دَ هغے مقام
او طريقۀ کار باندے مشتمل يو مفيد کتاب.

# په اسلام کښي د خدمت خلق اهميت، مقام او طريقه کار








مرتب
مولانا مفتی محمّد اياز درّانی صاحب حفظہ اللہ



العلم پبليکيشنز

# په اسلام کښې دخدمت خلق اهمیت ،مقام او طریقه کار

ابومعاویه مولانا مفتی محمد ایاز حفظہ اللہ

العلم پبلیکیشنز محلہ جنگی پشاور
091-2590315

# فهرست مضامين

دحقوق العباد اهميت اوضرورت ........................................ 4
د عملونو درې رجسترې :.................................................... 9
د انسان اصليت :......................................................... 12
دخدمت خلق اهميت : ...................................................... 12
معاشرتی تعلقات او خدمت خلق : ........................................ 15
رفاهی خدمت عبادت دې :.................................................. 24
دمخلوق دخدمت نه بغير تصوف نه حاصليږی :............................. 26
تعليمات نبوی ﷺ : ........................................................ 26
په ځناورو باندې رحم : ..................................................... 36
په ځناورو باندې رحم کولو سره مغفرت اوشو : ............................. 37
دالله تعالی دمخلوق په خيال ساتلو باندې ثواب :............................. 38
په سپی باندې اوبه څکلو سره ئې بخښنه اوشوه : ............................ 38
دځناورو خيال نه ساتلوپه وجه سره دجهنم عذاب :........................... 39
د ايصال ثواب دپاره د اوبو څګولو ترغيب : ................................. 39
نبی کريم ﷺ او خدمت خلق : .............................................. 40
خلفائې راشدين او خدمت خلق :........................................... 43
دخدمت خلق جامع تصوّر : ................................................ 47
خدمت خلق،ددين مقصد:..................................................... 50
دخدمت خلق مقام : ......................................................... 53

خدمت خلق:........................................54
اول صورت : چاته تکلیف نه ورکول :........................................55
څو احتیاطونه :........................................58
دویم صورت : انفاق فی سبیل الله : ........................................59
مال نه ، د زړه وسعت :........................................62
دریم صورت : ښه خبره کول :........................................64
څلورم صورت : صلاحیتونه لګول : ........................................65
خدمت خلق : په اجتماعی طور باندې :........................................66
د اجتماعی کار نوعیت :........................................67
د اجتماعی کار ترغیب او خپل مینځ کښې امداد : ........................................68
دنیت صحیح والي : ........................................71
دخپل ذات نه شروع :........................................75
د خدمت خلق کار :........................................80

# دحقوق العباد اهمیت اوضرورت

دانسان د کامیابۍ،خوشحالۍ او اطمینان او امن وسکو دپاره لازم او ضروری ده چه هغوی یوځاې اوسیږی،په خپله مینځ کښې رورلۍ قائم کړۍ او یو بل سره محبت کوۍ په خپل مینځ کښې داحترام فضا پیدا کړۍ۔ خپل مینځ کښې اشتراک اوتعاون دې فطری ضرورت قومونو او قبیلو لره پیداکړل،یعنی معاشره په وجودکښې راغله، بیا د معاشرې تاسیس دحقوقو او فرائضو دادا کولو په بنیادباندې اوشو، د نتیجې په طور باندې دیوبل حقوق او دفرائضو اداکول لازم اوګرځولې شو۔ ددې احساس او ذمه دارۍ نه بغیر نه کومه یوه معاشره په وجود کښې راځی نه داد ترقۍ منزلو نه وهلې شی۔

الله تعالی چه کله کائنات پیدا کړو اوزمکه اوآسمان ئې پیدا کړل،بیائې په دې کښې اشرف المخلوقات انسان لره پیداکړواودهغوی دهدایت دپاره ئې آسمانی هدایات په خپلو نبیانوباندې نازل کړل،دې دپاره چه انبیاء علیهم السلام خلقوته دهغه هدایاتو په ذریعه تبلیغ اوکړی۔ بیائې په آخر کښې خاتم الانبیاء نبی آخرزمان ﷺ لره په مکه مکرمه کښې هغه وخت راولیږلو کله چه خلق دجهالت په تیاروکښې ډوب شوې وو۔ نبی کریم ﷺ دټولو نه مخکښې دتوحید ورسالت درس ورکړو او منونکو ته ئې دایمانیاتو سره سره عبادات اوخودل،څنګه څنګه چه به دکوم عبادت حکم نازلیدو هم دغه شان به نبی علیه السلام خلقولره پوهول۔مزید داچه دحقوق الله سره سره به ئې دحقوق العباد هم تلقین کولو۔

غرض داچه دقرآن حکيم په ذريعه الله تعالی خپل بندګانوته دا تعليم ورکړې دې او واضح ئې کړو چه دا کائنات اوددې کائناتو ټول څيزونه چه کوم ګيرچاپيره موجود دی هغه دهغوی دخدمت او فائده دپاره پيدکړې شوې دی او دهغوی خالق الله تعالی دې۔

هُوَالَّذِی خَلَقَ لَکُمْ مَافِی الْاَرْضِ جَمِیعًا [سورة البقره:۲۹]

”الله تعالی هغه پاک ذات دې چاچه په زمکه کښې ټول څيزونه ستاسودفائدې دپاره پيداکړې دی“۔

په قدرتی طور باندې دا زمکه او په دې زمکه کښې چه څه موجود دی،هغه د ټولو بندګانو دفائدې دپاره دی۔ په دې وجه په ټولو انسانانو باندې چه په مخ د زمکه آباد دی دا فرض کيږی چه دالله تعالی د ورکړې شوې نعمتونو نه پخپله فائده اوچته کړی او نورو انسانانو ته هم فائده اورسوی او دنورو انسانانو دفائدې،دهغوی دحصې او د هغوی د ضروورياتو خيال ساتلوته دحقوق العباد ادا کول وائی۔مثلاً چه کله الله تعالی چاانسان ته دولت ورکړې دې نو دهغې تقاضا داده چه نورو لره هم حتی الوسع په دې نعمت کښې شريک کړې شی په دې وجه چه دا ددوی حق دې اودهغې شمار په حقوق العبادو کښې کيږی۔

دغه شان کله چه چاته الله تعالی د زمکې يوحصه ورکړې وی اوهغه په دې زمکه کښې څه اوکرل اودالله تعالی په کامل رحمت سره تازه اوشين فصل تيارشو،نودهغه فرض دی چه په دې کښې دمحتاج او محروم حصه ادا کړی۔

اسلام دحقوقو په بيان کښې دومره وسعت ورکړې دې چه دبندګانوباندې دنورو بندګانو چه کوم حقوق فرض دی نودهغې ئې هم

په وضاحت سره نشاندهی کړې ده یعنی دبندګانو په یوبل باندې حقوق خو واضح دی،خوددې نه علاوه دحیواناتو، نباتاتو اوجماداتوحقوق ئې هم په هغوی باندې فرض کیږی۔

دکائناتو سردارﷺ خودلې دی چه یوسړې په دې وجه اوبخښلې شو چه هغه په یوسپې باندې اوبه اوڅکلې اودهغه جان ئې بچ کړو۔ دغه شان نبی علیه السلام اوفرمائیل چه یوې ښځې یوه پیشو ساتلې وه خو هغې ته به ئې دخوراک څکاک دپاره څه نه ورکول دې ښځې ته دبې رحمې په وجه سره عذاب ورکړې شو،مدعا دا وه چه مسلمان دااوګنړی چه دانسانانو دحقوقو اداکولو سره سره دنورو مخلوقاتو حقوق هم ادا کول ضروری دی۔

دحقوقو دادا کولو په سلسله کښې اسلام یو آخری دین دې،کوم چه دانسانانو دمختلف رشتو سره دفطری تقاضو لحاظ ساتلو سره دهغې اولیت لره متعین کړې دې ۔ د حقوق العباد د اداکولو داطریقه چه مورپلار او رشته داردې محروم وی، خو نور خلق دې فائده اخلی،د اسلام په نظر کښې خوښه نه دې،اسلام دداسې قسمه غیرانسانی اوغیرفطری سلوک قائل نه دې۔ اسلام دحقوقو د اداکولو په معامله کښې نسبی اوخاندانی قرابت ته ترجیح ورکوی،دټولو بندګانو حقوق دې ادا کړې شی اوپه دې ترتیب او درجه بندئ سره چه کوم اسلام مقررکړې دی۔کچرې څوک سړې دمورپلار حقوق نه اداکوی، د رشته دارو سره احسان نه کوی، د یتیمانو، مسکینانواو ګوانډیانو خیال نه ساتی، د مسافرو امداد نه کوی د غلامانو آزادول اومصیبت زده مسلمانانو لره د ذلت او رسوائې نه او دغلامانه ماحول نه دویستلو

کوشش نه کوی،خوا په نوروباندې داحسان وکرم څومره هم باران اوکړی،دحقوق العباد چه داسلامی شريعت مطابق نه اداکولو مجرم به ضرور ګرځی اووده مثال دباران دهغه اوبو په شان به وی،چه په غريابنجرزمکه باندې اووريږی او پيداوار والا زمکه دقحط سالئ ښکار وی۔

حقوق العباد ته چه په اسلام کښې کوم اهميت ورکړې شوې دې،ددې داسې قسم تصوّرددې نه مخکښې په کوم يو شريعت يا معاشره کښې نه وو،په اسلامی شريعت کښې ددې حکم خلاصه داده چه :

*درد دل کے واسطے پیدا کیا انسان کو*
*ورنہ طاعت کے لئے کچھ کم نہ تھے کروبیاں*

دمحتاج حاجت لرې کول،دبيمارپوښتنه کول،دکونډو سرپرستی، ديتيمانوپرورش، دمجبورمعذرو خلقو مدد،د اَن پړو خلقو دپاره دتعليم انتظام،داسې معاملات په اسلامی شريعت کښې بهترينه درجه لری۔ اسلامی شريعت کښې دتاکيد کړې شوې دې چه څوک ګوانډی اوږې پاتې نه شی کچرې پخپله په مړه خيټه اوخورې او ګوانډې اوږې وی نودا سړې دکامل ايمان والا نه دې۔

دانسانانو حقوق ادا کول اوپه هرلحاظ سره دانسانانو احترام کول اودهغوی عزت قائم کول داسلامی تعليماتو لاندې راځی،کوم انسان چه دحقوق العباد د اداکولو په مرتبه باندې قائم دې دهغوی شمار د اوچت مرتبې په خلقوکښې وی،دا هغه انسان وی چه خپل آرام لره پريږدی او دايثار په کمال سره دنورو په کارراځی۔داسې د ايثار او دانسانانو او انسانيت سره محبت کونکې خلقو ته اسلام اوچت مقام

ورکوی۔ کچرې مونږ ته په خپله معاشره غربت اوجهالت ملاویږی اوپه معاشره کښې مونږ ګورو چه ضرورت مند او یتیمان او محتاج موجود دی او که زمونږ نظر بداخلاقو لره وینی او که زمونږ زړه دا ګواهی ورکړی چه په معاشره کښې فسق وفجور موجود دی یاڅوک معذوره دبې توجهې ښکار دې نو باور کول پکار دی چه مونږ خپلې معاشرې او سوسائټۍ لره د اسلام په قالب کښې د په اچولو کښې کوتاهی کړې ده، زمونږه دین زمونږ نه په داسې حالاتو کښې مطالبه کوی چه مونږداسلام دتعلیماتونه رهنمائی حاصله کړو اودخپل ماحول او معاشرې دټولو ګندګو نه او داخلاقی غلطو نه دپاک کولو عزم اوکړو۔

دقرآن پاک ارشاد دې:

"یَسْئَلُوْنَكَ مَاذَا یُنْفِقُوْنَ قُلِ الْعَفْوَ" [بقره:۲۱۹]

"خلق ستاسونه تپوس کوی چه دآمدنۍ څومره حصه په نوروباندې خرچ کړو،اې دالله رسول ﷺ تاسو ورته اووایۍ چه خپلو اخراجاتو لره محدود کولو سره په نورو باندې زیاتی خرچ کړۍ"۔

د دې مطلب دا نه دې چه دولت والوزوې او بخپله د سوال ګری او محروم په زمره کښې شامل شۍ،بلکه مقصد دا دې چه خپل ځان په احتیاط کښې د اچولو نه بغیردخپلې ګټې نه څه حصه په نورو باندې خرچ کړۍ څومره چه کیدې شی۔ د خوند خبره داده چه اسلام دا نه وائی چه کوم څه تاسو خرچ کوۍ او محتاج ته ئې ورکوۍ هغه تاسو په هغه باندې احسان کوۍ بلکه هغه اصرار کوی چه دبندګانو حق ادا کول په تاسو باندې فرض دی،د الله تعالی د رضا ذریعه ده،اودنبی علیه السلام د اطاعت اوتابعدارۍ عملی طریقه ده۔

دمعذورئ ګنړقسمونه دی،ذهنی معذوری،بدنی معذوری، نابینائی، غربت، داټولې معذورئ دی۔ زمونږ په معاشره کښې داسې خلق موجود دی چه د زمانې دحادثاتو په وجه سره په معذوروکښې شماریږی،نوداسې ټول افراد دمعاشې دخوشحال،صنعت کارو او سوداګرو وغیره توجه غواړی،دحقوق العباد تقاضا داده چه ټول خلقو لره لاس ورکړې شی او دهغوی دپاره دباعزته ژوند سامان اوکړې شی ۔

**د عملونو درې رجسټرې:**

یوحدیث کښې دنبی علیه السلام فرمان دې چه په آخرت کښې به اعمال نامې په درې قسمه وی چا چه کفروشرک کړې وی او هم ددې کفروشرک سره ددنیا نه تلې وی نودهغوی بخښنه به نه کیږی دویمې اعمال نامې به دهغه خلقو وی چاچه دخلقو حق وهلې وی نودهغوی حساب به په سختئ سره وی،په هغې کښې به څه قسم ګنجائش نه وی۔ او دریمې اعمال نامې به دهغه خلقو وی چه دهغوی عقائد هم صحیح وو او دحقوق العباد معامله ئې هم صحیح وه،خو دالله تعالی دحقوقو په باره کښې څه کمزوریانې وې مثلاً مونځ ئې ناوخته کړې وو په خشوع خضوع سره ئې نه وو کړې،دداسې خلقو معامله دالله تعالی سره ده،خواه اوغواړی بخښنه ئې اوکړی یااوغواړی عذاب ورکړی۔ بیابه دمعاملې دصفائې نه پس جنت کښې داخل کړې شی۔

ددې روایت نه معلومیږی چه دالله تعالی سره درې رجسټرې دی :

د یو رجسټر په باره کښې خو دالله تعالی دا فرمان دې چه ماته دهغې هیڅ پرواه نشته ـ د دویم رجسټر په باره کښې فرمائی چه کوم

څه په دې کښې دننه دی،هغه به هیڅ کله نه معاف کیږی،او د دریم رجسټر په باره کښې فرمائی چه په دې کښې دننه څه دی ددې په باره کښې به حساب ضرور وی ۔

ددې تشریح داسې کړې شوې ده چه : اول رجسټر هغه دې چه دهغې الله تعالی ته څه پرواه نشته، داهغه رجسټر دې چه په هغې کښې دانسان دکوتاهو ذکر به وی،چه هغه دالله تعالی په حقوقو کښې کړې وی، لکه په مونځ کښې کوتاهی،په روژه کښې کوتاهی،په صدقه کښې کوتاهی،دې ته دالله تعالی حقوق وائی،دغه شان داکوتاهیانې په دې رجسټر کښې لیکلې شوې وی،الله تعالی په خپلې مهربانئ سره دا قسم کوتاهیانې معاف کوی اوالله تعالی دمعاف کولو ډیر وعدې کړې دی نوپه دې باره کښې دالله تعالی فرمان دې چه ماته ددې پرواه نشته،که خوښه مې شی نو حساب به واخلم او خوښه مې شی نو معاف به ئې کړم۔

دویم رجسټر په باره کښې دالله تعالی فرمان دې څه چه په دې کښې دننه دی هغه به هیڅ کله معاف نه وی،داهغه رجسټر دې چه په هغې کښې دبندګانو کفروشرک لیکلې شوې وی،په دې وجه ددې به هیڅ کله معافی نه کیږی،کومو خلقو چه دالله تعالی سره شرک کړې وی په دې رجسټرکښې دهغه کفروشرک به لیکلې شوې وی ددې په باره کښې به څه رعایت نه وی، ذره برابر به هم په دې معامله کښې نرمی نه شی کولې اوهغه لره به همیشه دپاره دوزخ کښې اچوی۔(الله دې مونږ بچ کړی آمین)۔

او دريم رجسټر په باره کښې الله تعالى دا فيصله فرمائيلې ده چه کوم څه په دې کښې دننه دى،دهغې په باره کښې به ضرور حساب اخلم،دا هغه رجسټردې چه په هغې کښې دبندګانو حق وهلې ليکلې شوې وى،يوانسان بل انسان ته تکليف ورکړې وى هغه ټول به په دې رجسټرکښې ليکلې شوې وى،دغه شان په حقوق العبادکښې چه څومرکوتاهيانې شوې وى،هغه ټول په دې کښې ليکلې به وى۔ او ددې په باره کښې دالله تعالى دا فيصله ده چه هغه به ضروربالضرور ددې حساب اخلى او انصاف به ورکوى۔

بهتر داده چه دآخرت دحساب نه مخکښې مونږ ته په دنيا کښې خپله محاسبه کول پکار دى۔ په حديث کښې شريف کښې راځى چه:

وَحَاسِبُوْاقَبْلَ اَنْ تُحَاسَبُوا [حديث]

"ددې نه مخکښې چه ستاسو حساب اوکړې شى خپله محاسبه اوکړئ"۔

امام قرطبّى رحمه الله ليکلې دى کچرې څوک يوسړې دبل سړى نه يو دانق هم په ناحقه واخلى نودقيامت په ورځ به ددې يو دانق په بدله کښې هغه ته اووه سوه قبول شوې مونځونه ورکول وى۔ (يو دانق ديو درهم شپږمه حصه وى او يو درهم تقريبًا د درې نيم ماشو وى)۔

هلته معامله څومره نازکه ده ....! په دې وجه چه دچاپه حق کښې کوتاهى شوې وى،يازياتې شوې وى بس نن ددې خبرې اهتمام شروع کړئ چه ديوبل نه معافى اوغواړئ،يوبل معاف کړې،که پيسه دې اخستې يا ورکړې وى نوپيسه ته واخله يا ورکړه معامله صفاکړئ او چاچه رشوت ياسود اخستې دې نو هغه دې واپس کړى،چاچه حرام

مال خوړلې وی هغه دې دخپل مال نه په دومره مقدار کښې اوباسی،یائې چاته تکلیف ورکړې وی یادچاحق باقی وی نودهغه نه دې معاف کړی،یادې هغه ته خپل حق واپس کړی ۔ مونږ دمرګ نه مخکښې خپله لمن داسې صفا کړو چه دکوم انسان حق زمونږ په ذمه پاتې نه شی،داسې مونږ خپله لمن داسې صفاکړو تودا مشکل مرحله به هم آسانه شی ۔ [اصلاحی خطبات مفتی تقی عثمانی صاحب]

## دانسان اصلیت:

لفظ انسان داُنس نه مشتق دې،ماده ددې "الف" او "نون" او "سین"ده،ددې لغوی معنی مانوس کیدل،اُنس،مینه،محبت او یوځاې اوسیدل دی۔ کچرې دې انسان لره یواځې پریخودلې شی،خواه که څومره هم دآرام سکون ژوند تیرکړی خو ځانله وی،څوک انسان ده سره ملاویدو والا نه وی نوداځانله انسان به خوشحاله نه وی ځکه چه دده دفطرت تقاضا دنوروانسانانوسره د یوځائ اوسیدوده ۔ ځانله والې دده په فطرت کښې نشته بلکه دده دپاره به ضرری ثابتیږی ۔

## دخدمت خلق اهمیت:

انسان مدنی الطبع دې یعنی انسانی فطرت ددې تقاضا کوی چه هغه دې دنورو انسانانوسره یوځاې اوسیدلې،د انسانانو نه ځانله والې دجدائې ژوند تیرول دانسانی فطرت خلاف دی ۔ په دې وجه اسلام هم ددې خلاف دې۔ددې خلاف په یوځائ کار کولوصورت کښې دیوبل ضرورت پیش نظروی چه دهغې اداکول لازم وی۔ دحقدارانو حقونه او دمحتاجوضرورریاتولره دالله تعالی دحکم لاندې سرته رسولونوم خدمت خلق دې۔ هم دغه شان دخدمت خلق اطلاق په هرداسې کاربانديې

کیږی چه دهغې نه هرچاته یوشان فائده رسیږی۔ د خدمت خلق دائره انسان خوځه ځناورو او اونوبوټو پورې خوره شوې ده ۔په مونږ باندې د انسانانو دټولونه لوې حق خودادې چه مونږ هغوی ته دژوند تیرولو صحیح طریقه اورسو په کوم چه د هغه د دنیا اوآخرت انحصار دې۔ اسلام دې کار لره دیومنصب په حیثیت سره پیش کوی ۔

كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ

[آل عمران: ۱۱۰]

"تاسو یوبهترین اُمت ئې چه خلقوته دفائدې رسولودپاره پیداکړې شوې ئې تاسوبه دنیکې حکم کوئ او د بدئ نه به منع کول کوئ"۔
بل ځاې کښې دنیکانو خلقوصفت بیانولوسره فرمائی :

اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ فَاَصْلِحُوْا بَيْنَ اَخَوَيْكُمْ۔ [الحجرات:۱۰]

"چه مسلمانان رونړه رونړه دی بس دخپلو رونړو په مینځ کښې صلح اواصلاح کوئ"۔
ددې آیت نه معلومه شوه چه د دوؤ ډلو په مینځ کښې صلح کول هم خدمت خلق دې،قرآن مجیدکښې یوبل ډیر د حکمت نه ډک آیت دې۔

يَسْئَلُوْنَكَ مَاذَا يُنْفِقُوْنَ، قُلِ الْعَفْوَ۔ [البقره:۲۱۹]

"هغوی تپوس کوی چه د الله په لاره کښې څه خرچ کړی ۔ ورته اووایه چه کوم ستاسو د ضرورت نه زیات وی"۔
هم دغه شا په قرآن پاک کښې د ایمان والو یو خصوصی صفت داهم بیان شوې دې :

وَيُؤْثِرُوْنَ عَلٰى اَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ [حشر: ۹]

"هغوی په ځان باندې نورو ته ترجیح ورکوی خواه هغوی په خپله

ضرورت مند ولې نه وی"۔

د نن په دنیا کښې د خودغرضئ او نفسانفسی داسې دور دوره ده چه په هغې سرې غواړی چه هغوی دنورو په حقوقو باندې قبضه کولو سره خومره فائده اوچته کړی دومره ښه ده۔ کچرې یوکس دچاسره څه ښیګړه کوی نودا سوچ کوی چه ددې په بدله کښې به ددې سړی نه دافائده حاصلوم۔ د نن په معاشره کښې همدا خودغرضی او مطلب پرستی داسې لعنت جوړشوې دې چه په هغې سره دانسان ذهنی سکون ختم شو دې ۔ راښکل او منډو ترړو انسانی اعصابو لره ستړې کړی دی۔ د اسلام د خدمت خلق د جذبې مقصد دادې چه انسان دخپلې فائدې نه علاوه انسانیت رابیدار کړی اویو داسې معاشره جوړه کړی چه چرته دمظلوم امداد اوکړې شی ۔ د هر ضرورت مند ضرورت پوره کړې شی او هر سړې خپل ذاتی مفادو لره شاته اوغورزوی خلوص او محبت لره عام کړی دې دپاره چه دمعاشرې هرکس خوشحاله او مطمئن وی ۔

په یو بل ځاې قرآن مجید د ایمان والو خصوصی صفت بیانولو سره فرمائی:

وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا ۔ [الدھر: ۸]

"هغوی دالله تعالی دمحبت دپاره مسکین یتیم او قیدی باندې خوراک کوی" ۔

معلومه شوه چه په حاجت مندو باندې خوراک کول هم خدمت خلق دې ۔

## معاشرتی تعلقات او خدمت خلق :

کله چه مونږ دا وايو چه دين دپوره ژوند نظام دې ـ او همدا هغه اعلان دې چه په دې باندې د اقامت دين او جهادفی سبيل اللّٰه تحريک قائم شوې دې۔ نومونږ ته په دې باندې پوهيدل پکار دی چه دانسان ټول ژوند د انسانی روابط مجموعه ده ـ انسان په دنيا کښې پيدا کيږی هغه وخت چه کله دوه انسانان ديوبل سره يوځاې کيدو سره يوخاندان جوړوی ـ د انسان بچې په هغه صورت کښې ژوندې پاتې کيدې شی او دهغه پرورش کيدې شی،چه کله دوه انسانان يوځاې شی دهغه  خدمت اوکړی او هغه ته د ژوند دسامان بندوبست اوکړې۔ ددې نه پس،دده ټول ژوند د نورو انسانانو سره دتعلقات نه عبارت دې ـ مونږ د اقامت دين په ضمن کښې د معاشرتی نظام،معاشی نظام،سياسی نظام او ددې قسمه نورو نظامونو ذکر کوو ـ دا ټول په ټوله نظامونه هم دانسان او دانسان دتعلق،او دهغوی په مينځ کښې روابط،او ددوی په خپل مينځ کښې خيالات او مال او څيز ونه او دنورو څيزونو د تبادلې سره  په وجود کښې راځی ـ

په دې لحاظ سره،کچرې دپوره دين اقامت مقصود وی،نوچرته چه دا ضروری ده چه سړې په خپل زړه کښې،او په خپل ذاتی ژوندکښې،هرځاې کښې داللّٰه تعالی دحکومت قائم کولو کوشش اوکړی،هلته داهم ضروری ده چه د نورو انسانانو سره دده روابط اوتعلقات د اللّٰه تعالی دمرضی مطابق قائم وی۔ په يو لحاظ سره تاسو غوراوکړئ نو ددين داقامت ټول کوشش هم په اصل کښې د انسان د خدمت او محبت نتيجه ده۔ په دې وجه چه داقامت دين د کوشش

مقصد په دې دنیاکښې د ټولو انسانانو ته دعدل وانصاف په نعمت سره فائده ورکول دی دې دپاره چه دهغوی ژوند د سکون او رحمت نه ډک شی،او دلته په آسانۍ او فراخۍ سر ژوند تیرکړی،او په آخرت کښې دالله دعذاب نه بچ شی۔ همدا خبره نبی کریمﷺ داسې اوفرمائیله : چه زما اوستاسو مثال داسې دې لکه چه چا اُور بل کړې وی او ټول ماحول روښانه شوې وی،نو پروانې او میږی وغیره په اُور کښې غورزیږی، او زه ئې نیسم او بچ کوم ئې۔ دغه شان زه ستاسو ملا نیسم او وایم چه اې دالله بندګانو د اُور نه ځان بچ کړئ! او تاسو مالره نظرانداز کوئ او اُور ته دانګې۔

کوم داعی چه هم د دین داقامت او دعوت او شهادت دپاره اودریږی،دهغه بنیاد هم دغه درد او سوز دې۔ هم په دې سره په دعوت کښې دننه هغه کیف اثر او کشش پیداکیږی،چه په هغې سره بل انسان د هغې طرفته راخکلې راځی۔ خشک دعوت کله هم دانسانانو په زړونو باندې اثر نه کوی ترڅو پورې چه په هغې کښې دهغوی دپاره محبت او سوز او درد نه وی۔ د داعی او د اقامت دین د مجاهد په حیثیت سره،د انسان خدمت او په دنیا کښې دعدل وانصاف په نعمت سره د فائده ورکولو دپاره او په آخرت کښې هغه لره دجنهم د اُور نه دبچ کولو دپاره چه کوم تړپ کیدل پکاردې، هم هغه په اصل کښې دخدمت بنیاد جوړیږی۔

ددین اقامت دهغه دپاره نه دې چه په دنیاکښې خپل اوچتوالې،خپله غلبه او خپل حکومت غواړی۔ ایمان والا خو هغه دی چه ددې خبرې نه اوچت وی او د انسانانو خادم جوړیدلو سره په

هغوی باندې حکومت کوی ـ قرآن مجيد خو وئيلې دی چه کوم حکومت په زمکه کښې خپله لوئی او خپله غلبه او استيلاء نه غواړی او نه فساد غواړی،مونږ دهغه دپاره آخرت مخصوص ايخودلې دې۔ دحضرت عمربن عبدالعزيز رحمة الله عليه مشهوره مقوله ده چه کله يو عامل هغه ته اوليکل چه تاسو جزيه معاف کړه نو بيت المال به خالی شی۔ په دې باندې هغه اووئيل : چه الله خپل نبی لره ټيکس کلکټر جوړکړې نه وو ليږلې،بلکه هادی ئې جوړکړې راليږلې وو۔ کچرې خزانه خالی شی نو زه به پکښې جاړو اووهم تالا به ورته واچوم۔ مونږ حکومت ددې دپاره نه کوو چه دخلقو نه ټيکس جمع کړو،بلکه په دې وجه ئې کوو چه هغه په صحيح لار باندې اولګوو۔ په اصل کښې اقامت دين،جهاد او په دعوت کښې هم دا مقصد او نظريه ده۔ انسان سره همدردی،دهغه دپاره د زړه درد او محبت او دهغه په ګمراهئ باندې پريشانی،او دخپل ذات دپاره دالله تعالی رضا او دجنت حاصليدل دده اصل محرک دې۔

قرآن مجيد د روابطو دې نظام لره دټولو نه ښکاره صفت يعنی د رحمن په صفت باندې قائم کړې دې۔په مختلف احاديثوکښې دې طرفته اشاره کړې شوې ده ـ او د نبی کريمﷺ ژوند هم د رحمت مظهر دې۔ پخپله قرآن مجيد کښې هم دې طرفته اشاره کړې شوې ده چه رسول اللهﷺ هم د مؤمنانو دپاره رؤف ورحيم دې،سرنه خپوپورې شفقت او دټول عالمين دپاره رحمت هم دې۔

نبی عليه السلام د الله تعالی رحمت،او ديو انسان دبل انسان سره د رحمت تعلق لره،په احاديثو کښې په مختلف انداز سره بيان کړې دی۔

مثلاً :

مَنْ لَّا يَرْحَمُ لَا يُرْحَمُ [حدیث]

"چه څوک رحم نه کوی په هغه باندې رحم نه شی کولې"۔

یعنی چه کوم په خلقوباندې رحم نه کوی او درحمت او شفقت سلوک نه کوی،په هغه باندې به هم الله تعالی رحم نه کوی۔ چه کوم په خلقوباندې رحمت کونکې وی،په هغه باندې به هم رحمن رحم کوی۔ په هغه خلقوباندې تاسو رحم کوئ چه په زمکه کښې دی آسمان والا به په تاسوباندې رحم اوکړی۔ دا شان یو نه بې شماره احادیث دی، چه په هغې کښې دا فرمائیلې شوې دی چه انسانی روابطو لره د رحمن او رحیم کیدو صفت په سانچه کښې اچول پکار دی۔ مؤمنانو دپاره قرآن پخپله واضحه کړه :

رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ [الفتح:۴۸]

"چه هغوی دیوبل دپاره ټول رحمت دې"۔

مسلمان،دمسلمانانوجماعت،دمسلمانانو امت دیوبل دپاره او د ټول انسانیت دپاره هم سرنه خپو پورې رحمت دې۔ په حدیث کښې وئیلې شوې دی چه :

اَلْخَلْقُ عِيَالُ اللهِ

"یعنی د الله مخلوق د الله تعالی دکور خلق او دهغه خاندان دې"۔

او الله تعالی ته د خپل کور خلقو او خاندان کښې هغه سړې دټولو نه زیات خوښ دې چه دده دخاندان سره ښه سلوک اوکړی، احسان اوکړی،او نیکی اوکړی۔ د دهغه رحمت دې چه د انسانانو سره د نیکی او دښیګړې سلوک کولې شی ۔

رحمت دتعلق بنيادی سانچه ده۔ کچرې مونږ دې لره نور تقسيمول اوغواړو نو د دؤو اصولو لاندې ئې تقسيمولې شو۔ يو دا چه انسان نورو انسانانو ته زياته فائده اورسوی،دهغوی خدمت او ښيګړه اوکړی،دهغوی په کار راشی،دهغوی حاجتونه پوره کړی،دهغوی غم او درد لرې کړی، اودهغوی فکر وغم لره سپک کړی۔ دا مثبت اړخ دې۔ دويم منفی اړخ دې،هغه داچه يو انسان بل انسان ته تکليف او ضرراونه رسوی۔ دانسانانو سره دتعلق چه کوم اړخ هم راځی هغه به ددې مثبت او منفی، دواړو اړخونو يوځاې کيدو سره به عبارت وی۔

په ټولو معاشرتی رواياتو او د آدابو په تعليماتو کښې هم دا اصول په کار لګيدلې دې چه ستا دځه عادت،دځه قول او دځه عمل نه بل انسان ته تکليف اونه رسی۔ په دې کښې دحقونو ادا کول بالکل بنيادی حيثيت لری۔ چه کوم حقونه مقررکړې شوې دی،هغه دې ادا کړې شی،سړې دې دظلم په لاره باندې نه ځی او نه دې دچا حق وهی۔ دچا ځان،مال، عزت لره دې پامال نه کړې شی۔ دالله تعالی رسول ﷺ دخپل آخری حج په خطبه کښې په واضح طور باندې فرمائيلې وو چه: نن نه ستاسو ځانونه، مالونه،او عزتونه په يوبل باندې حرام دی۔ دقرآنی،نبوی او دينی تعليماتو،آدابو،اخلاقياتو نه واخله تر وړو وړو خبرو پورې همدا فلسفه کار کوی چه انسان دې څه داسې کار نه کوی چه په هغې سره بل انسان ته تکليف اورسی۔

د انسانی تعلقاتو او روابطو دا بنيادی اصول دی۔ په دې باندې دتفصيلی غور ضرورت دې۔

اولنی مثبت اصول د''خدمت''دې۔ دې په باره کښې معلومول پکار دی چه د دین تعلیمات او تقاضا څه ده،ددین مزاج څه دې،او ددې بله حصه حقوقو لره ادا کولوسره ظلم نه کول او دتکلیف نه رسولو ده۔ ددې څه اهمیت دې؟ ددې په باره کښې چه د قرآن وحدیث کوم تعلیمات ملاویږی،په هغې باید د پوهیدلو ضرورت دې۔

خدمت او دنفعې دحده پورې په قرآن مجیدکښې دانسان خدمت او د هغه حاجت پوره کولو لره ئې په الله تعالی باندې د ایمان برابر نیک عمل گرځولې دې۔ ډیرکم خلقو ته ددې احساس دې چه قرآن دې خبرې لره د ایمان سره ذکرکړې ده۔ سورة الحاقه کښې د یوې ډلې ذکر دې چه هغوی لره به په جنهم کښې اچولې شی۔اوبه وئیلې شی چه دوی لره اونیسئ او وې تړې او جنهم ته ئې اوغورزوې۔ ددې چه کوم چارج شیټ قرآن نقل کوی هغه دادې:

إِنَّهُ كَانَ لَا يُؤْمِنُ بِاللَّهِ الْعَظِيمِ وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ الْمِسْكِينِ ۔ [الحاقہ: ۳۴،۳۳]

''ده نه په الله رب العزت باندې ایمان راوړو او نه ئې په مسکین باره کښی د خوراک ورکولو ترغیب ورکولو''۔

دا دوه جرمونه دی: یوداچه په الله ئې ایمان نه راوړلو۔ دویم داچه مسکین ته دخوراک ورکولو ترغیب ئې نه ورکوو۔یعنی پخپله خوراک ورکول خو خیر ډیر لویه خبره ده،صرف دا چه نورو ته د خوراک ورکولو ترغیب پورې ئې هم نه ورکولو۔

د قرآن مجید بې شماره آیتونه ایمان او خدمت لره خپل مینځ کښې دیوبل سره متعلق کوی۔ددې دواړو رشته دومره ژوره قائموی چه بعضې غیرمسلمو چاچه دقرآن مطالعه کړې ده تردې پورې وئیلې دی

چه قرآن مجيد دمعاشرې د اصلاح (Social Reform) دپاره د ايمان په بنياد باندې معاشرتی تعلقاتو(Social Relation) لره لوې کاميابئ سره استعمال کړې دی۔

بهرحال په غورکولو سره معلوميږی چه مثبت ومنفی دوه اصول جوړيږی۔ يو دا چه دانسان خدمت،دهغه سره محبت او دهغه دپاره دردوغم،څنګه چه ما اووئيل چه په اصل کښې اقامت دين،جهاد او د دعوت بنياد هم دادې۔ کله چه دا بنياد په ژوند کښې رائج وی،جاری وساری وی،نوبيابه انسانانو سره هغه تعلق قائميږی چه انسان به په هغه دعوت باندې لبيک وائی۔ ترڅو پورې چه دعوت په کتابونو کښې ليکلې شی،او په مجرد الفاظو او دلائلوسره پيش کيږی،هغه وخته پورې دعام انسانانو دپاره به په دې کښې هيڅ کشش نه وی۔دنبی عليه السلام دعوت هم هغه وخت قبول شو کله چه خلقو په خپلو سترګو باندې دنبی عليه السلام اخلاق او سلوک اوليدلو۔ د انسانانو خدمت اودهغوی مدد او حاجت پوره کول،په خوشحالئ او غم کښې شرکت، دهغوی سره تعاون څنګه چه هم ممکن وی دا د عظيم الشان نيکونه دی۔ مونځ،روژه، او زکوة او دنورو ټولو نيکو نه زياته لويه نيکی دا ګرځولې شوې ده۔

بل طرفته په ګناهونوکښې د ټولو نه لويه ګناه،دانسانانو حقونه وهل او انسانانو ته تکليف رسول دی۔دالله رسول ﷺ خو تردې پورې وئيلې دی چه چا مسلمان ته تکليف اورسولو هغه ماته تکليف راورسولواوچاچه ماته تکليف راورسولو هغه الله تعالی ته تکليف اورسولو۔ چاچه مسلمان لره خوشحاله کړو هغه زه خوشحاله کړم، اوچاچه زه خوشحاله کړم هغه الله تعالی خوشحاله کړو۔

ګویاالله رسولﷺ د مسلمان د زړه،دهغه دعزت،دهغه د تکلیف او دهغه د پریشانئ براه راست رشته دخپل ذات سره اوتړله،بیائې د الله تعالی سره اوتړله ـ ټولو تعلیماتو لره راغونډول صرف ددې دوه اصولو لاندې جمع کولې شی،یو مثبت او یو منفی۔

کچرې دسړی په وس کښې مثبت نه وی نوځنګه چه په حدیث کښې وئیلې شوې دی،چه کم نه کم دخپل شر نه خو خلقو لره بچ کړه......دا کم نه کم دې،کوم چه ته کولې شې۔ کچرې په لاس سره نه شې ګټلې،د ورکولو دپاره دولت نشته دې،د تللو دپاره همت نشته،دچا حاجت مند مدد نه شې کولې، نو کم نه کم خو داسې خبره دخپلې ژبې مه اوباسه، او خپل لاس سره داسې کار مه کوه په کوم سره چه شر پیداکیږی او چاته تکلیف رسی۔ دا دنیکئ او صدقې کم نه کم درجه ده کوم چه دانسان په وس کښې دی۔ که څه هم نه وی نو کم نه کم دا نیکی به ضرور کولې شی۔

په مثبت طور باندې مدد،او په منفی طورباندې د تکلیف رسولو نه پرهیز،دا په اصل کښې دهغه رحمت الهی دوه ښاخونه دی کوم باندې چه قرآن دالله تعالی تعلق دبندګانو سره قائم کړې دې۔ الرحمن،هغه رحمن دې چه دلوې رحمت کولو والا دې او مسلسل رحمت کوی۔هغه رحیم هم دې او هغه غواړی چه د هغه بندګان دې هم په خپل مینځ کښې ددې رحمت مظاهره اوکړی۔ مؤمنان د یوبل سره ټول په ټوله رحمت وی"رُحَمَآءُ بَيۡنَهُمۡ" او مؤمن به د خپل رسولﷺ په تابعدارئ کښې د نورو انسانانو دپاره ټول په ټوله رحمت وی۔رسول اللهﷺ رحمت للعالمین وو۔ایمان والو له هم د انسانانو دپاره ټول رحمت کیدل پکار دی۔

الله تعالی سره دتعلق نه پس د دعوت دپاره د اقامت دین دپاره، دجهاد دپاره،او تنظیم دپاره،دټولو نه اهم څیز دې۔ په ټولو کارونو کښې ددې همدا اهمیت دې چه لحاظ ساتل ئې ضروری دې۔ په دې وجه چه کچرې الله اوغواړی چه دده نوم اخستونکې دې په انسانانو باندې باچا جوړ شی نو هغه به دا غواړی چه دهغه نوم اخستونکې دې داسې وی چه په بندګانو باندې ظلم کونکې او لاس اوچتونکې نه وی، بلکه داسې خلق دې وی چه دهغوی محبت کوی دهغوی خادم جوړ شی او خادم جوړیدو سره سره خدمت اوکړی۔ صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین هم دې مقام ته رسیدو سره سره د دنیا امامت او حکومت حاصل کړې وو۔ چرته چه به هغوی تلل نو بغیر دجنګ جهګړې نه به خلقو د ښار دروازې کهلاوهلې۔ د خلقو زړونه به فتح کیدل۔ تاسو ته پته ده چه طارق بن زیاد څو سوه کسان واخستل او سپین ته لاړلو،پوره سپین ئې فتح کړو۔ محمدبن قاسم څو سوه سړی ځان سره واخستل هندوستان ته راغلو،پوره سندهه ئې فتح کړو۔ دا دجنګ په وجه سره نه وو بلکه ددې وجه دا وه چه ددې اوسیدونکی دمخکښې نه د اسلام دپاره مسخر شوې وو،دهغوی زړونه ددې دپاره کهلاؤ شوې وو۔ د عربو د سوداګرو دهند سره تعلقات ډیر واضحه او صفا وو او اسپین هم ډیر لرې نه وو۔ مسلمانان لیبیا،تیونس او مراکش پورې رسیدلې وو او د خلقو زړونه واقف ووچه دا څنګه خلق دی۔ مشهوره واقعه ده چه یوځاې مسلمانانو لره دجنګ په وجه سره خپل ښار خالی کول وو، نوهغوی چه دمسلمانانو نه کوم جزیه اخستې وه هغه خلقو ته واپس کړه۔ عیسائیان هم په ژړا شول چه داسې خلق خو مونږ غوښتل چه زمونږ په مینځ کښې اوسیږی او په مونږ باندې حکومت اوکړی۔

خلقو په کهلاؤ زړه سره د دين استقبال اوکړو،هغوی استعمار پسند نه ؤو۔ چه چرته لاړل هم هلته آباد شول،هلته ئې وادونه اوکړل ۔ په دې وجه هغوی دخلقو خادمان وو۔ دهغوی باچاهانو به هم دخلقو خدمت کولو۔ ځپله به ئې پيړې جامې اوغوستلې اوچه روټئ به ئې خوړله خو دانسانانو خدمت به ئې کولو۔ ددې کار دپاره به هروخت تيار وو۔ دا کردار د اسلام دهغه تعليماتو په نتيجه کښې راوچت شوې وو۔

دکاميابئ په لارباندې دتللو دپاره چه څومره ضرورت ددې خبرې دې چه سړې په خپل عبادت باندې توجه ورکړی،په خپل اخلاقو باندې توجه ورکړی،دالله په لاره کښې خپل مال اوځان خرڅ کړی، هلته ددې خبرې هم ضرورت دې چه د سړی په دننه کردار کښې هم دا دوه صفتونه وی چه دخلقو خدمت اوکړی او هغوی ته تکليف نه رسوی۔ خلق دا محسوس کړی چه دا خو د رحمت فرښتې دی چه زمونږ په مينځ کښې ګرځی۔ ددوی په غالب کيدو سره او پاس راتلو سره زمونږ ژوند د رحمت اوبرکت نه ډک شی۔

## رفاهی خدمت عبادت دې:

د اسلام او کتاب وسنت نه معلوميږی چه هرهغه مقام او ځاې د الله تعالی په نزد قدروقيمت لری دکوم نه چه خلقو ته نفع رسيږی۔د ذاتی نفع په مقابله کښې او د ذاتی اظهارعزت او وجاهت په مقابله کښې دداسې ادارو،داسې مرکزونو او اقداماتو نه الله تعالی ډير خوشحاليږی،په کوم سره چه دالله تعالی مخلوق ته نفع رسيږی۔ دهغه خلقو په باره کښې لوې لوې بشارتونه راغلې دی چه داسې مرکزونه قائم کړی دکوم نه چه خلقو ته بدنی طبّی،رفاهی ياددې نه هم زيات

دینی او روحانی او اخلاقی فائده رسیږی۔ ددې د الله تعالی په نزد ډیر قدر دې او دا دین زمونږ دین دې دکوم په ذریعې سره چه الله مونږ ته عزت راکړې دې، دا دین دینِ فطرت دې او دین انسانیت دې۔ دا دین عالمګیری او ابدی دې۔دې دخپل عمومیت په لحاظ سره په ټولو بنیادمو باندې حاوی او مشتمل دې او دخپل دوام په لحاظ سره دې دقیامت پورې یوه صدقه جاریه ده۔ دې لره چه په کوم شکل کښې هم چه دانسانانو دپاره فائده مند وی کچرې څه قدم اوچت کړې شی،څه مرکز قائم کړې شی نو الله تعالی په دې سره خوشحالیږی،په دې وجه دا د الله تعالی دمخلوق دپاره فائده مند دې۔اوپه دې کښې دټولو نه لویه مرتبه او چه کومه اوله درجه ده هغه ددین دعلم د خودلو ده چه عام خلقو او نوې نسل ته دا معلومه شی چه ددې پیدا کونکې څوک دې۔ دده څه صفات دی او څه احسانات دی،دده څه مطالبات دی، اود انسانانو څه حقوق او فرائض دی او په صحیح طریقه باندې دژوند تیرولو اصولی طریقه څه ده،چه په هغې سره ده ته د الله تعالی سره شرافت او رضاحاصله شی او نورو ته فائده اورسی۔ په دې وجه کچرې تاریخ اولوستلې شی نو معلومیږی چه د رفاه عام کار په هر دور کښې چه څومره دې امت اسلامیه سرته رسولې دې،ددې څه مثال په تاریخ انسانی کښې نه ملاویږی۔

د مسجدونو تعمیر،دمدرسو قیام او دشفاخانو او د علاج د لویو لویو مرکزونو قیام بیا ددې نه علاوه د رسد رسولو چه کومې ذریعې دی،هغه ټول مسلمانانو په خپل دور کښې اختیارکړې دی۔ ددې ټولو دلته تذکر کول خو مشکل دی لهذا ددې دپاره دتاریخ لوستلو ضرورت

دې،چه ددې دپاره مسلمانانو حکمرانانو،دعلم خاوندانو او عام مسلمانانو دخپل خپل حيثيت مطابق په هردور کښې ددې کوشش کړې دې چه څه داسې کار اوکړی چه دکوم نه خلقوته فائده وی۔ بهرحال ددې نه دعالم اسلام پوره تاريخ ډک پروت دې او هيڅ ځاې خالی نه دې۔ [خطبات علی میاں : ٣٨٤/٤]

## د مخلوق د خدمت نه بغير تصوف نه حاصليږی:

حکيم الامت مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله فرمائی چه په حقيقت کښې صوفی هغه دې چه په خپل هرکار کښې دالله تعالی د رضا نيت اوکړی،او دالله تعالی د رضاحاصلولو طريقه داده چه دالله تعالی بندګان دتکليف نه بچ کړی،او دالله تعالی بندګانو ته راحت اورسوی،په دې وجه حضرت اوفرمائيل چه اوګوره! چه زه تاسو لره اوس صوفی جوړوم۔

نن صباپه خانقاګانو کښې اوسيدونکو،درياضتونو او مجاهدو کونکو د مراقباتو او کشف او کراماتو نوم "تصوف" ايخودلې دې،خو حضرت حقيقت واضحه کړو چه ددې نوم "تصوف" نه دې۔ ؎

*ز تسبیح و سجادہ و دلق نیست　　　طریقت بجز خدمت خلق نیست*

يعنی صرف د تسبيح لوستلواو په مصلّی باندې کيناستلو او ګدړۍ اغوستلو نوم تصوف نه دې،بلکه خلقوته دې خير اورسولې شی،دمخلوق دخدمت نه بغير تصوف نه شی حاصليدې۔ [اسلام اور ہماری زندگی جلد: ۴ص:۲۲۷]

## تعليمات نبوی ﷺ:

دنبی عليه السلام ټول ژوند دخدمت خلق بهترين نمونه وه او دنبی عليه السلام دعوتِ اسلام د خدمت خلق بهترينه نمونه ده۔ ددې

نه علاوه به نبی علیه السلام دهرسړی دخدمت دپاره هروخت تیار وو۔ دنبی علیه السلام ټول ژوندپه دې باندې ګواه دې۔

صحابی سیدناعمروبن عبسه رضی الله عنه روایت کوی چه زما د شروع نه په بتانوباندې یقین نه وو۔ زما خیال وو چه دا کار غلط دې۔ بیاماواوریدل چه یوسړې په مکه کښې یوبل څیز طرفته دعوت ورکوی..... ماپه سوارلې باندې کجاوه اوتړله او مکې ته اورسیدم۔ دا داسې زمانه وه چه دنبی علیه السلام پته لګول او معلومول مشکل کار وو۔ ما پته کولو سره نبی علیه السلام سره ملاؤ شوم او تپوس مې ترې اوکړو چه تاسو څوک ئې؟ ۔ نبی علیه السلام اوفرمائیل : "د الله نبی یم"۔ ماتپوس اوکړو "نبی څه ته وائی"؟۔ نبی علیه السلام اوفرمائیل زه الله تعالی رالیږلې یم۔ ماتپوس اوکړو: "چه الله تعالی دڅه څیز سره رالیږلې ئې؟"په دې باندې نبی علیه السلام اوفرمائیل:"صِلَةُ الْاَرْحَامِ یعنی د قرابت داریٔ د رشتې قائمولو دپاره،او دبتانو او شرک نه دبچ کیدلو دپاره اوصرف دیوالله دبندګئ دپاره"۔

دلته هم که په ترتیب باندې غور اوکړې شی نو دا خبره مخې ته راغله چه نبی علیه السلام هغه وخت هم کوم دعوت پیش کړودالله تعالی احکام او پیغام ئې پیش کړو په هغې کښې دټولو نه مخکښې ئې صِلَةُ الْاَرْحَامِ اووئیلو دا دصله رحمیٔ (قرابت داریٔ رشتې قائمول) هم خدمت خلق دې۔

سیدناجعفرطیار رضی الله عنه نه دحبشې باچا نجاشی تپوس اوکړو چه ستاسو دین څه دې؟ تاسوته څه تعلیم درکړې شوې دې؟ دا ډیره نازکه موقع وه۔ دهغه ځان هم په خطره کښې وو ځکه چه دقریش

دکافرانو وفد په دربار کښې موجود وو،دهغوی مطالبه وه چه زمونږ نه راتختیدلې خلق دی تاسو مونږ ته واپس کړئ۔په دې صورت حال کښې سیدناجعفرطیار رضی الله عنه اووئیل : اې باچا! مونږ به دبتانو عبادت کولو،دروغ به مو وئیل،مردارې به مو خوړلې او ظلم به مو کولو په یتیمانو او کونډو باندې به مو ظلم کولو بیاالله تعالی په مونږ باندې کرم اوکړو اوپه مونږ کښې ئې خپل رسول راولیږلو،هغه مونږ الله طرفته راوبللو،او وې وئیل چه د کاڼړو عبادت پریږدئ،رښتیا وائې، د ګوانډیانو مدد کوئ،او نیکه لاره اختیار کړئ۔ اوس مونږ د کونډو خبرګیری کوو،دیتیمانو خدمت کوو او دالله تعالی بندګی کوو۔

په بین الاقوامی سطح او پیمانه باندې د اسلام د اول تعارف کیدو خو دلته هم د الله تعالی دبندګئ سره د انسانانو خدمت دواړه خبرې یوځاې ذکرکړې شوې۔

نبی علیه السلام دیو نوې او مکمل اسلامی ریاست او یو نوې تهذیب قائمولو دپاره مدینې ته تشریف راوړلو نو نبی علیه السلام په اوله خطبه کښې اوفرمائیل :

اَفْشُوْا السَّلاَمَ وَاَطْعِمُوا الطَّعَامَ وَصَلُّوْا بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامُ وَادْخُلُوا الْجَنَّةَ بِالسَّلاَمِ۔

دلته څلور خبرې اوفرمائیلې شوې: اول : سلام خور کړئ یعنی په خپله ژبه او حسن سلو کسره سلامتی خوره کړئ،دا هم دخدمت خلق یو صورت دې۔ دویم دا چه ضرورت مند او اوږو باندې خوراک اوخورَوئ۔دریم داچه خلق اوده وی نو دتهجد مونځ کوئ۔او څلورم دا چه جنت ته به سیدها داخل شئ۔

ګویا چه کوم نوې تهذیب ،ریاست او معاشره جوړیدو والا وه، دې لره نبی علیه السلام په اول طورباندې دا درې خبرې اوکړې، او جنت ته د داخلې بشارت ئې هم دې دریو سره یوځاې ذکر کړې۔ دارنګه نبی علیه السلام اوفرمائیل:

دیومسلمان رور ضرورت پوره کولو دپاره دهغه سره تلل،په مسجدنبوی کښې دیوې میاشتې اعتکاف کولو نه بهتردی،اوکوم سړې چه خپله غصه اوڅکی دکومې چه په نافذ کولو باندې دې قادر وی نو الله تعالی به دقیامت په ورځ دده زړه د امیدونو نه دک کړی۔ یعنی هغه به په میدان حشرکښې د رحمت او مغفرت الهی نه ناامیده نه وی اوکوم سړې چه دچا مسلمان څه حاجت پوره کولو دپاره هغه سره لاړشی۔ نوپه کومه ورځ چه دخلقو قدمونه(دپل صراط نه) اوخوئیږی نوالله تعالی به دده قدمونو لره ثابت کړی۔ او بدخلقی(نیک) عمل لره داسې بربادوی څنګه چه سرکه شاتو لره بربادوی۔

[الطبرانی الکبیر الصحیحہ:۹۰۶]

یوځل یو میلمه راغلو،دشپې په کور کښې صرف دچیلۍ پۍ وو،نبی علیه السلام میلمه ته ورکړل۔د نبی علیه السلام کوروالو شپه په لوږه کښې تیره کړه حالانکه ددې نه مخکښې شپه ئې هم په نهره تیره کړې وه۔

دیو صحابی رضی الله عنه د ولیمې دپاره په کور کښې هیڅ هم نه وو۔نبی علیه السلام اوفرمائیل عائشه صدیقه رضی الله عنها ته لاړ شه او اوړو ټوکرئ ترینه اوغواړه راوړه هغه لاړلو د اوړو ټوکرئ ئې راوړله حالانکه دنبی علیه السلام کره کور کښې ددې نه اوړو نه سیوا هیڅ نه وو۔

نبی علیه السلام اوفرمائیل چه : دضرورت په وخت د خپل مسلمان رور مدد کول زه د رمضان د روژو نیولو او په مسجد کښې پوره میاشت په اعتکاف کښې دکیناستلو نه بهتر ګنړم۔

بل ځاې فرمائی۔

"دکونډو مسکینانو په مدد کښې اوسیدو والا داسې دې لکه چه دالله په لاره کښې جهاد کوی یاپوره شپه په عبادت کښې تیره کړې او تهوله ورځ روژه دار ئې"۔ [حدیث]

نبی علیه السلام دخلقو سره دهمدردئ او دخدمت خلق په باره کښې په مختلفو موقعو باندې ارشاد فرمائیلې دی:

۱۔ ته به مسلمانانو لره خپل مینځ کښې په یوبل رحم کولو والا،محبت کولو والا او په شفقت سره پیش راتللو کښې دیو انسانی بدن په شان اووینې چه دده په یو اندام کښې هم تکلیف وی نو دبدن تهول اندامونه به په تبه او بې خوابئ کښې مبتلا کیږی۔[صحیح مسلم]

۲۔ کوم سړې چه دیو مسلمان رور په ضرورت پوره کولو کښې لګیا وی،الله تعالی به دهغه ضرورت پوره کړی،چه دیو مسلمان رور تنګی لرې کړی۔نو الله تعالی به ددې په بدله کښې په قیامت کښې دده تنګی لرې کړی۔ [ابو داؤد]

۳۔ مَنْ نَفَّسَ عَنْ مُؤْمِنٍ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ الدُّنْيا نَفَّسَ اللهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيامَةِ ، وَمَنْ يَسَّرَ عَلٰى مُعْسِرٍ يَسَّرَ اللهُ عَلَيهِ فِي الدُّنْيا وَالْآخِرَةِ ، وَاللهُ فِي عَوْنِ الْعَبْدِ مَا كَانَ الْعَبْدُ فِي عَوْنِ أَخِيهِ۔ [ابوداؤد]

کوم سړې چه دیو مسلمان په دنیاوی تکلیفونو کښې یو تکلیف لرې کړی نو الله تعالی به دقیامت په ورځ دده په تکلیفونوکښې یو

تکلیف لره لرې کړی۔ اوڅوک چه په چاتنګ دست باندې آسانی اوکړی نو الله تعالی به په دنیا او آخرت کښې په ده باندې آسانی اوکړی۔ څوک چه په چامسلمان باندې پرده واچوی نو الله تعالی به دقیامت په ورځ په ده باندې پرده واچوی۔الله تعالی دخپل بنده په مدد کښې اوسیږی ترڅو پورې چه هغه دخپل رور په مدد کښې اوسیږی۔

٤۔ اَلْمُسْلِمُ اَخُوا لْمُسْلِمِ لاَیَظْلِمُهٗ وَلاَیُسْلِمُهٗ، مَنْ کَانَ فِی حَاجَةِ اَخِیهِ کَانَ اللهُ فِی حَاجَتِهٖ، وَمَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ کُرْبَةً فَرَّجَ اللهُ عَنْهُ بِهَا کُرْبَةً مِنْ کُرَبِ یَوْمِ الْقِیامَةِ۔ وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللهُ یَوْمَ الْقِیامَةِ۔ [متفق علیہ]

مسلمان دمسلمان رور دې،نه په هغه ظلم کوی او نه دې بې سهاره پریږدی۔ کوم سړې چه دخپل رور څه ضرورت پوره کوی نوالله تعالی دهغه ضرورتونه پوره کوی اوکوم سړې چه دیومسلمان تکلیف لرې کړی نوالله تعالی به دده دقیامت په تکلیفونوکښې یو تکلیف لرې کړی او څوک چه په چامسلمان باندې پرده واچوی نوالله تعالی به دقیامت په ورځ په ده باندې پرده واچوی۔

اَلْمُسْلِمُ اَخُوالْمُسْلِمِ

”مسلمان دمسلمان رور دې“۔

لهذا د انسان چه دخپل رور سره کومه معامله وی۔ د هر مسلمان سره هم هغه معامله کیدل پکار دی ۔ خواه هغه مسلمان پردې وی ۔او په ظاهره ئې دهغه سره څه رشته داری نه وی۔ په ظاهره ئې د هغه سره دڅه دوستئ تعلق نه وی۔ خو تاسو ده لره خپل رور ګنړئ۔

لَا يَظْلِمُهٗ وَلَا يُسْلِمُهٗ

”نه دې مسلمان په مسلمان باندې ظلم کوی او نه دې بې يارومدګار پريږدی“۔

يعنی صرف دانه چه په ده باندې دې ظلم نه کوی بلکه دې به بې يار ومدګار هم نه پريږدی ۔ کچرې يومسلمان په څه مشکل کښې مبتلا دې ياپه څه پريشانئ کښې مبتلا دې،هغه ته ستا د مدد ضرورت دې نوهيڅ يو مسلمان دې هغه لره بې يارومددګار نه پريږدی۔ هغه دې دا سوچ نه کوی چه څه راپيښيږی نو ده ته راپيښيږی۔ زما ددې سره څه تعلق دې؟ زما خو څه هم نه ورانيږی او دې سوچ سره جدا شی۔دا کار دمسلمان نه دې،بلکه دمسلمان په فرائضو کښې دا خبره داخله ده کچرې هغه بل مسلمان لره په مصيبت کښې اووينی،ياچالره په څه مشکل او پريشانئ کښې ګرفتاراوينې۔نو بل مسلمان لره پکار دی چه حتی الامکان دده پريشانی لرې کړی۔او دا دې سوچ نه کوی کچرې زه په دې کار کښې اولګم نو زما وخت به ضائع شی۔يا به پکښې ګير شم ۔

دکوم دور نه چه مونږ تيريږو۔ دا داسې دور دې چه په دې کښې انسانيت څه قدرې بدل شوې دې ۔انسان انسان پاتې نه شو۔يو هغه وخت وو چه کچرې انسان به په تلوکښې تيندک اوخوړلو او راپريوتلو به نو بل انسان به دهغه د اوچتولو دپاره او سهاره ورکولو دپاره ورمخکښې کيدو۔ کچرې په سړک باندې به څه حادثه راپيښه شوه نوهرانسان به رامخکښې شو دهغه دمدد کوشش به ئې کولو۔نن صبا صورت حال بدل شوې دې،کچرې داسې څه واقعه راپيښه شی نوڅوک هغې ته کتلو والا يا تعاون کونکې نه ملاويږی۔ددې باوجودهم خلقو

ته دخپل ځان په باره کښې مهذب او شائسته کیدو دعوی ده۔ اسلام خو ډیر د لرې ځیز دې،خو په داسې موقعه باندې دانسانیت تقاضاده چه سړې راکوز شی اوګوری چه ده ته څه تکلیف رسیدلې دې، دده چه څومره مدد کیدې شی اوکړې۔ نبی علیه السلام په دې حدیث کښې فرمائیلې دی چه یو مسلمان دا کار نه شی کولې چه هغه بل مسلمان لره داسې بې یارومددګار پریږدی،بلکه دیو مسلمان فرض دی چه کچرې هغه بل مسلمان لره په څه مصیبت کښې ګرفتاراوموی یاپه څه پریشانئ یا مشکل کښې اووینی نوحتی الامکان دهغه دپریشانئ او مصیبت لرې کولو کوشش دې اوکړی۔

مَنْ کَانَ فِی حَاجَةِ اَخِیهِ کَانَ اللهُ فِی حَاجَتِهٖ۔

کوم سړې دیو رور په څه ضرورت پوره کولو کښې لګیدلې وی۔ دهغه څه کار کوی۔ نو ترڅو پورې چه دخپل رور کار کوی۔ الله تعالی به دهغه کار جوړ کړی اودهغه حاجتونه به پوره کړی۔

وَمَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ کُرْبَةً فَرَّجَ اللهُ عَنْهُ بِهَا کُرْبَةً مِنْ کُرَبِ یَوْمِ الْقِیامَةِ۔

اوکوم سړې چه دچا مسلمان نه څه تکلیف یا دمشقت خبره لرې کړی۔ یعنی هغه څه داسې کار اوکړی چه په هغې سره دچا مسلمان مشکل آسان شی۔ او دهغه مشکلات لرې شی نو دې لرې کونکی باندې چه به دقیامت په ورځ کومې سختې راتلونکې وې الله تعالی به په دې سختیانوکښې یوه سختی ددې سختئ په مقابله کښې لرې کړی ۔

وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللهُ یَوْمَ الْقِیامَةِ۔

اوکوم سړې چه په چا مسلمان باندې پرده واچوی۔ مثلاً

دیومسلمان دیوعیب پته اولګی چه په ده کښې دننه فلانې عیب دې یا فلانې خرابی ده،یاپه فلانئ ذاتی ګناه کښې مبتلا دې۔اوس دا سړې دې عیب باندې پرده واچوی،او نورو ته ئې اونه رسوی،نوالله تعالی به دقیامت په ورځ دده پرده پوشی اوکړی او دده ګناهونه به پټ کړی۔دا ډیر جامع حدیث دې او په ګنړو جملو باندې مشتمل دې۔

٤۔ دنبی علیه السلام ارشاد دې چه : چاچه دالله په لاره کښې د جهاد دپاره سامان تیارکړو نو هغه ته به دومره اجر ملاویږی ګویاچه هغه پخپله په جهادکښې شریک شو اوچاچه د مجاهد دتلو نه پس دهغه دکوروالو خبرګیری اوکړه نوهغه هم ورسره د جهادپه اجر کښې شامل شو۔

٥۔ کوم سړې چه په الله تعالی او په ورځ دقیامت یقین ساتی هغه دخپل ګاونډی عزت کوی او هغه ته تکلیف ورنکړی۔ [صحیح بخاری]

٦۔ سیدناانس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول اللهﷺ ارشاد فرمائیلې دې چه هغه کس په ماباندې ایمان نه دې ر اوړې چه په داسې حالت کښې په خپل په مړه خیټه اوخوری په بې فکرئ سره اوده شی او دده سره خوا کښې اوسیدونکې ګاونډی اوږې وی او ده ته دهغه د اوږی کیدو خبر هم نه وی۔

[مسند بزار،معجم کبیر للطبرانی۔مجمع الزوائد]

٧۔ سیدنامعاذ بن حَیده رضی الله عنه فرمائی چه : ما اووئیل اې دالله رسولﷺ دګاونډی څه حقونه دی.....؟ نبی علیه السلام اوفرمائیل :

"د ګاونډی حقوق دادی چه که هغه بیمارشی نودهغه پوښتنه اوکړه،اوکه هغه وفات شی نودهغه جنازې سره لاړشه ( او ددفن په

کارونوکښې مدد کوه اوکه هغه دخپل ضرورت دپاره) قرض اوغواړی نو(دوس مطابق) هغه ته قرض ورکوه اوکه هغه څه بد کار اوکړی نو پرده پرې اچوه،او که هغه ته څه نعمت ملاؤ شی نوهغه ته مبارکی ورکوه اوکه څه مصيبت ورته اورسی نو تعزيت ورته کوه، اوخپل آبادی دهغه دآبادئ نه دومره مه اوچتوه چه دهغه په کور باندې هوا بنده شی او(کله چه ستاپه کور کښې څه ښه غوندې خوراک پوخ شی نوددې کوشش کوه چه)ستا دکټوئ خوشبو دهغه دپاره(او دهغه د بچو دپاره)دتکليف باعث نه وی) يعنی ددې اهتمام کوه چه دکټوئ خوشبو دهغه کورته لاړ نه شی)مګرداچه دهغې نه لږ غوندې دهغه کورته اوليږه (په دې صورت کښې خوشبو دهغه کورته تلو کښې څه باک نشته)"

[ طبرانی۔ مجمع الزوائد]

۸۔ سيدناجابررضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلې دې: چه : کله چه په تاسوکښې چاکره کټوئ پخه شی نو هغه له پکاردی چه خوروا پکښې زياته اوکړی،بيا ددې نه څه ګاونډی کره هم اوليږی ۔[معجم اوسط للطبرانی،مجمع الزوائد]

مطلب دادې چه دخوراک څکاک په وخت دخپل غريب ګاونډی هميشه خيال ساتل پکار دی،که هغه ته سالن نه شې ورکولې نو کم نه کم دخپل سالن خوروا خو ورته ورکړه دې دپاره چه هغه هم خيټه ډکه کړی۔ددې خبرې نه اندازه لګولې شی چه دالله تعالی دبندګانو خدمت څومره اهم کار دې، کوم ته چه قرآن او نبی عليه السلام دا مقام ورکړې دې۔

الله تعالی به دقیامت په ورځ دبنده نه تپوس اوکړی.... چه زه اوږې ووم تاماباندې خوراک اونکړو،زه تږې ووم تاپه ماباندې اوبه اونه څکلې۔مختلف احادیثو کښې مختلف الفاظ راغلې دی یوځاې راځی چه زه بې لباسه ووم تاماته لباس رانکړو،زه بیمار ووم تازما پوښتنه اونکړه......اوپه هرخبره باندې به بنده حیران شی چه اې رب العالمین! ته څنګه اوږې کیدې شې؟ته څنګه بیماریدې شې؟ په دې باندې به الله تعالی اوفرمائی چه زما فلانې بنده اوږې وو،زما فلانې بنده تږې وو،زما فلانی بنده سره د اغوستو دپاره جامې نه وې،زما فلانې بنده بیمار وو،او کچرې تاپه هغه باندې خوراک څکاک کړې وې پوښتنه دې کړې وې نوهغه به دې نن دلته زماسره موندلې وې ۔په اصل کښې دالله تعالی دبندګۍ لاره همدا خدمت خلق دې!

بهرحال خدمت خلق د اخلاقو هغه قسم دې چه نورو بندګانو ته د فائده رسولو سره ئې تعلق دې اوددې دائره کار دومره قدرې وسیع دې چه دمورپلار او اولاد د حقوقو نه واخله دیتیمانو،مسکینانو او بیمارانو ګاونډیانو او حاجت مندو حقوق ټول په دې کښې راځی۔

غرض داچه دضرورت مندو مدد،دالله په مخلوق باندې شفقت او د حاجت مندو حاجت پوره کول او نور دښیګړې کارونه د اسلام د بنیادی تعلیماتو نه دی۔ صله رحمی، د ګاونډیانو سره ښه سلوک، دیتیمانو اوکونډو او کمزورو خلقو خبرګیری دایمان د شاخونونه دی۔

**په ځناوروباندې رحم:**

داخو دانسانانودحقوقو بیان وو،هرکله چه اسلام په مونږ باندې د ځناورو حق هم لازم ګرځولې دې اوددې ئې هم تاکید کړې دې ۔

ځکه چه ځناور هم دالله تعالی مخلوق دي په دې وجه حتی الامکان هغوی ته هم د تکليف ورکولو نه پرهيز کول پکار دی۔ په سفرکښې دځناورو هم حقوق وی په دې وجه هغوی ته هم راحت و آرام رسول پکار دی۔ رسول کريمﷺ اوفرمائيل :

”کله چه تاسو دخوشحالئ په زمانه کښې سفر کوئ نو اوښانو ته دزمکې نه دهغوی حصه ورکوئ او کله چه تاسو دقحط په زمانه کښې سفر کوئ نوهغوی تيز زغلوئ“۔

مطلب دادې چه کله د شينکی زمانه وی او په زمکه کښې هرځاې واښه راختلې وی نو په سفرکښې اوښانوته دځريدو موقع ورکړئ۔ او کله چه قحط سالی وی او په زمکه باندې واښه موجود نه وی نو سوارلو له تيزه چلوئ دې دپاره چه منزل ته اورسې او په لاره کښې دا څاروې د اولږې تندې د مصيبت نه بچ شی۔

دارنګه څاروی په ناحقه ذبح کول نه دی پکار،څه مرغې يا څاروی له تړل او په هغه باندې غشی نه دی ورول پکار۔نن صبا کوم خلق چه چرګان او مرزان جنګوی هغوی دنبی عليه السلام داحکامو خلاف ورزی کوی۔ نبی عليه السلام ځناور په خپل مينځ کښې هم دجنګولو نه منع فرمائيله ده۔

## په ځناورو باندې رحم کولو سره مغفرت اوشو:

رسول اللهﷺ د ټول عالم دپاره رحمت جوړشوې راليږلې شوې دې۔نبی عليه السلام ديوې فاحشې ښځې دبخښنې وجه دا اوخودله چه هغې يو ترږې سپې اوليدلو چه دسختې تندې دلاسه ئې لونده زمکه څټله نو هغه ښځه پوهه شوه چه دا سپې ترږې دې۔لهذا دې ښځې سپې

باندې د اوبو څکلو اراده اوکړه۔ خو د اوبو څکلو دپاره هغه ښځې سره څه څيز نه وو،خپلې لوپټې پورې چه موزه اوتړله او کوهی ته ئې ورکوزه کړه په هغې کښې چه څومره اوبه راغلې هغه ئې په سپې باندې اوڅکلې۔ په دې سره الله تعالی دهغه فاسقې او فاجرې ښځې بخښنه اوکړه۔ [صحيح بخاری و صحيح مسلم]

## دالله تعالی دمخلوق په خيال ساتلو باندې ثواب:

يوحديث کښې د نبی عليه السلام ارشاد دې: چه څوک اونه نال کړی يا کوهې اُوکنی يا غله بوټی وغيره اُوکری چه هغه په دې طريقه باندې ميوه دار شی اوپه دې نيت سره اونه لګوی چه څوک به ئې سيوری ته کينی۔ په دې نيت سره ئې کوهې اوکنستو چه مرغې به راشی اوبه به اوڅکی څاروی به ئې اوڅکی نوکومې مرغې چه راځی اوبه څکی څاروی اوبه څکی يا ددې فصل نه مرغې په خپله مخوکه کښې دانه اوچتوی او خپل ګزاران پرې کوی،نودا ټول به دده په اعمالنامه کښې ثواب ليکلې کيږی۔ [متفق عليه]

## په سپی باندې اوبه څکلو سره ئې بخښنه اوشوه:

په يو روايت کښې درسول الله ﷺ فرمان دې چه يو بنده سپی باندې اوبه اوڅکلې هغه بنده هم فاسق فاجر وو،الله تعالی دهغه بنده مغفرت اوفرمائيلو،په ځنګل کښې ئې سفرکولو ېخپله هم دسفر په وجه سره د تندې نه بې حاله وو،داسرې کوهی ته کوز شو اوچه اوبه ئې اوڅکلې بهر راغلو نو سپې ئې اوليدلو چه دتندې د وجې نه بيهوشه کيدلو والا دې، سخت تږې دې هغه سوچ اوکړو چه څنګه ماته تنده لګيدلې وه،همداسې دې سپی ته هم لګيدلې ده۔ بيا لاندې کوز

شواوخپلې ځپلۍ کښې اوبه راوچتې کړې هغه سپې باندې ئې اوڅکلې،الله تعالی دهغه بخښنه اوفرمائیله ـ

د څناورو په خیال ساتلو باندې هم د انسان ټول ګناهونه معاف کیږی،په دې خیال سره چه دا هم دالله تعالی مخلوق دې،په ده هم خوراک څکاک پکار دې، اوآرام ورته رسول پکار دی نوپه دې سره هم مغفرت یقینی کیږی۔

## د څناورو خیال نه ساتلو په وجه سره د جهنم عذاب :

په یو حدیث کښې راغلې دی چه یوه ښځه به جهنم ته ځی دسزا مستحقه به وی ځکه چه هغې پیشو تړلې وه نه ئې پرې اوبه څکلې او نه ئې ورته خوراک ورکولو اونه ئې آزاده پریخودله،هغه پیشومړه شوه وې فرمائیل چه داښځه جهنمی ده بغیر دڅه وجې نه هغې دالله تعالی یومخلوق مړ کړو۔ دغه شان په حدیث کښې دی چه نبی علیه السلام دمیږو بغیر دڅه وجې نه وژل منع فرمائیلې دی ـ[متفق علیہ]

عام مخلوقات مثلاً سپې،پیشو،څریدونکی څناور،مرغو باندې اوبه څکلو سره مغفرت کیدې شی نو انسان خو اشرف المخلوقات دې هغه باندې اوبه څکل ،خوراک پرې کول،خو ډیر دثواب کار دې، او د مغفرت کیدوسبب دې۔

## د ایصال ثواب دپاره د اوبو څکَولو ترغیب:

سیدناانس رضی الله عنه د رسول اللهﷺ په خدمت کښې حاضر شو،عرض ئې اوکړو چه زما مور وفات شوې ده،زه داسې څه عمل اوکړم چه په هغې سره زما مور ته ثواب اورسیږی،نبی علیه السلام اوفرمائیل چه مورته دثواب دپاره په ترو باندې اوبه څکه،کوهې

اوکنه،څه چشمه اوکنه،داسې څه انتظام اوکړه چه په هغې سره خلق اوبه څکی، خودبخود به ورته ثواب رسیږی ـ

## نبی کریم ﷺ او خدمت خلق:

د نبی کریم ﷺ ټول عمر دا معمول وو چه کله به هم دچا په باره کښې دا معلومه شوه چه ده نه د فلانی څیز ضرورت دې یاپه مشکل کښې ګرفتار دې نو نبی علیه السلام به بې آرامه کیدو اوچه کله به ئې دخپل وس مطابق مدد کولو کوشش نه وو کړې نو نبی علیه السلام ته به سکون نه راتللو۔

نبی علیه السلام په عملی طور باندې دخدمت خلق بې شماره نمونې پیش کړې دې۔ د هر لوې وړوکی کار به ئې په خوشحاله تندی سره کولو۔ دنور دپاره به ئې دبازار نه سودا راوړله۔ د بې کسه او ضعیفانو خلقو کورونو ته به تلو ورته به ئې وئیل چه که څه کار وی چه زه ئې اوکړم،تردې پورې چه څناورو سره به هم نبی علیه السلام محبت کولو،دهغوی د لوږې تندې او آرام به ئې ډیر خیال ساتلو۔

د نبی علیه السلام په ابتدائی دعوت کښې دښیګړې کارونو طرفته خصوصی توجه ورکړې شوې وه بلکه دا داسې څیز ووچه دنبوت نه مخکښې دنبی علیه السلام په طبیعت کښې شامل وو او دنبی علیه السلام امتیاز وو،نو په اول ځل د وحی دنزول نه پس نبی علیه السلام په خپل ځان باندې خطره محسوسه کړه نو سیده خدیجه رضی الله عنها نبی علیه السلام ته تسلی ورکولو سره فرمائیلې وو:

لَا يُخْزِيكَ اللهُ اَبَدًا اِنَّكَ لَتَصِلُ الرَّحِمَ وَتَحْمِلُ الْكَلَّ وَتَكْسِبُ الْمَعْدُوْمَ وَتَقْرِئُ الضَّيْفَ وَتُعِيْنُ عَلٰى نَوَائِبِ الْحَقِّ۔

والله! الله تعالی به تاسو لره کله هم رسوا نه کړی،ځکه چه تاسو صله رحمی کوئ،د کمزورو بوج اوچتوئ،د خالی لاسونو والو دپاره بندوبست کوئ،دميلمه ميلمستيا کوئ، دحق د طرف نه نازل شوې مصيبتونو باندې دخلقو مدد کوئ۔

يو منزل باندې رسيدو سره د خوراک پخولو تيارې شروع شونو صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعين ذمه دارئ تقسيم کړئ۔چا د اوبو راوړلو ذمه واری واخستله،چا د اوړو راوړلو،چا دخوراک پخولو۔نبی عليه السلام هم دخپل ځان دپاره د ځنګل د خشاک راوړلو خدمت په خپله ذمه واخستلو او هغې لره ئې (د صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعين د نه غوښتلوباوجود) هم سرته اورسولو۔

د مسجدنبوی په جوړولو کښې ټول صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعين د مسجد په جوړولو کښې پوره حصه اخستې وه نونبی عليه السلام د ټولو سره کار اوکړو۔ په غزوه خندق کښې نبی عليه السلام د صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعين سره دخندق په کهدائې کښې حصه اخستې وه۔

د حبشې نه څه ميلمانه راغلې وو صحابه کرام رضی الله عنهم غوښتل چه دهغوی خدمت اوکړی خو نبی عليه السلام په خپلو لاسونو د هغوی خدمت اوفرمائيلو چه دې خلقو زما د دوستانو (مهاجرين حبشه) خدمت کړې دې۔په دې وجه زه د هغوی خدمت کوم۔

په صحيح مسلم کښې راځی چه :

”د مدينې معذور او غريبې ښځې به نبی عليه السلام ته راتلې، او خپله مدعا به ئې ورته عرض کوله نو نبی عليه السلام به سمدست هغوی سره تللو او کاربه ئې ورله کولو راتلو به“۔

نبی علیه السلام به دخلقو کورونو ته تللو د هغوی د چیلو پئ به ئې لوشل،تردې چه یوې بوډئ به نبی علیه السلام ته قسماقسم تکلیفونه ورکول،خو چه کله هغه بیماره شوه نونبی علیه السلام به دهغې دکور ټول کار په خپله ذمه اخستلو۔

ابن عساکرلیکلې دی چه سیده عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمائی چه نبی علیه السلام به کورکښې فارغ په نظر نه راتلو۔کله به ئې دچا کونډې جامې ګنډلې اویا د چا غریب یتیم دڅپلو مرمت کښې به مصروف وو۔ [مختصر تاریخ د مشق]

نبی علیه السلام ته دخدمت خلق څومره خیال وو؟ ددې اندازه مونږ ددې واقعې نه هم کولې شو۔دا دهغه وخت خبره ده کله چه دنبی علیه السلام په ټول اولاد کښې صرف یوه سیده فاطمه رضی الله عنها ژوندئ پاتې شوې وه،هغه دنبی علیه السلام نیازبینه لور وه،او نبی علیه السلام ته ډیره زیاته ګرانه وه۔ کله چه به نبی علیه السلام سره ملاویدو دپاره راتلله نو نبی علیه السلام به دخوشحالئ نه اودریدو، په تندی به ئې خکلوله اوپه خپل ځاې به کینوله۔ کله چه به دکوم ځاې (سفر) نه کورته واپس راتللو نو خصوصًابه دسیده فاطمه رضی الله عنها کورته تللو دهغې سره به ملاویدو۔ دنبی علیه السلام دځیګر دټوټې دکور دا حال وو چه هلته څوک نوکره نه وه،فاطمه رضی الله عنها به پخپله دانې اوړه کولې،مشکیزه به ئې راډکوله اوبه به ئې راوړلې،دهغې دلاس په تلو باندې او سینه باندې نښې جوړې شوې وې۔ فاطمه رضی الله عنها خپل باباجان ته لاړله چه دنبی علیه السلام د طرف نه چرته ماته یوه وینځه ملاؤ شی دې دپاره چه دکور په کار کښې راسره مدد کوی۔سیده

فاطمه رضی الله عنها چه کله نبی علیه السلام ته راغله او دحیاء دوجې نه ئې ورته څه اونه وئیل او واپس شوه نو روستو سیدناعلی رضی الله عنه دنبی علیه السلام په خدمت کښې دهغې درخواست پیش کړو، چه په فلانی جنګ کښې کومې وینځې راغلې وې دهغې نه یوه وینځه دوی ته دې ورکړې شی۔ نو نبی علیه السلام ارشاد اوفرمائیلو: اوسه پورې د اصحاب صفه انتظام نه دې شوې او ترڅوپورې چه داصحاب صفه بندوبست نه وې شوې نو بل طرفته توجه نه شم کولې۔ ددې نه ثابته شوه چه نبی علیه السلام ته دخپلې ګرانې او خوږې لور د تکلیف نه زیات دخلقو دضرورتونو احساس وو۔ همدا دخدمت خلق جذبه ده چه خپل ضرورت لره پریږدې دنورو ضرورت پوره کړې۔

یوځل بیا سیدناعلی رضی الله عنه په څه سلسله کښې دمدد درخواست اوکړو نو هغوی جواب ورکړو چه دا نشی کیدې چه زه تاسو ته درکړم او اهل صفه په دې حال کښې پریږدم چه هغوی دلوږې نه لاچاره وی۔ غرض داچه دنبی علیه السلام ټول ژوند د وړو لویو غریبو،محتاجو،نادارو او دمستحقینو په خدمت کښې تیر شو۔

**خلفائې راشدین او خدمت خلق:**

د تاریخ اسلام مطالعه کولو سره خو دټولو نه اول د سیدنا محمدالرسول الله صلی الله علیه وسلم ژوندمبارک به د روښانه منارې په شان په نظر راځی،دهغوی نه پس دهغوی خلفائې راشدین په اعمال صالحه کښې زمونږ دپاره قابل دتقلید دی۔ دخدمت خلق په سلسله کښې ددې څو مثالونو نه دخلفائې راشدینو عمل واضح کیږی۔ دخلفائې راشدینو وینا وه چه ګورنران،کمشنران، ډپټی کمشنران

(عمال) له په دې وجه لیږلې شی چه هغوی دعوامو خدمت اوکړی او هغوی ته ددین اسلام تعلیم ورکړی۔

هغوی دا جذبه دخپل نبی صلی الله علیه وسلم نه حاصل کړې وه۔ اولنی خلیفه راشدسیدناابوبکرصدیق رضی الله عنه دخپل دور خلافت نه مخکښې به دخلقو خدمت کولو۔ کله چه دخلافت په منصب باندې کیناستو نویوه جینۍ دهغوی په خدمت کښې راغله او په ډیر افسوس سره ئې اووئیل: تاسو امیرالمؤمنین جوړشوې،اوس به زمونږ چیلۍ څوک لوشی؟ سیدناابوبکرصدیق رضی الله عنه په عاجزۍ سره اوفرمائیل په الله قسم! هم زه به دا خدمت کوم۔زما خلافت به ددې خدمت په کولو کښې رکاوټ نه جوړیږی،دخلافت په دور کښې هغوی خلقو له سودا راوړله،دشپې په تیاره کښې به ئې دبې کسه ښځو دکورونو نه ښځلې اوچتولې او بهربه ئې غورزولې۔ لږ سوچ اوکړۍ دهغوی دخدمت خلق جذبه څومره مضبوطه وه چه په یواعلی عهدې باندې هم وو خو ددې خبرې ئې پرواه نه کوله چه په دې سره به زما په شان کښې فرق راشی۔

دویم خلیفه سیدناعمرفاروق رضی الله عنه به دخپل خلافت په زمانه کښې د مجاهدینو د محاذ جنګ راغلې چیټۍ (خطونه) په خپله دهغوی کورونو ته اوړلې او تقسیمولې۔هغه به پخپله دهغوی په چوکټ باندې کیناستلو دهغوی دکوروالو خط به ئې هم لیکلو۔هغوی کله هم په دې کارکښې دخپل ځان هتک نه وو محسوس کړې۔

سیدناعمرفاروق رضی الله عنه به دمدینې په کوڅوکښې ګشت کولو دې دپاره چه هغه پخپله معلومه کړی چه په رعایاکښې چاته څه

مسئله خو راپیښه نه ده،چاته خو دمدد ضرورت نشته،کچرې چاته څه پریشانی وی چه دهغه مدد اوکړې شی۔په دې دوران کښې ئې د یوکور نه دماشومانو د ژړا آواز واوریدلو۔دوی د ماشومانو د ژړا د وجې تپوس اوکړو نو هغه ښځې اووئیل چه ماشومان دلوږې نه ژاړی ددوی دخوراک دپاره په کور کښې څه نشته دې ماخالی کټوئ کښې اوبه اچولی دی او په نغری مې ایخودې ده چه ماشومان پرې اوغولوږی۔ عمررضی الله عنه هغه وخت بیت المال ته لاړلو او دخوراک څکاک سامان ئې راجمع کړو۔کله چه هغه سامان ېخپله راوچتولو نو غلام ورته اووئیل راکړئ چه سامان زه اوچت کړم،نو حضرت عمررضی الله عنه ورته اوفرمائیل چه دقیامت په ورځ به زما بوج څوک اوچتوی؟.

سیدناعمرفاروق رضی الله عنه به خپل ځان ته دامیرالمؤمنین په ځاې باندې اجیرالمؤمنین (دمومنانو مزدور) وئیلو۔

یوځل د عراق یو وفددحضرت عمررضی الله عنه سره ملاویدو دپاره راغې۔پته اولګیده چه هغه د ښار نه بهر صحرا کښې دماسپخین نه پس دبیت المال سرکاری اوښانو لره مالش کوی،وفد هلته لاړلو،څه ګوری چه امیرالمؤمنین بغیردقمیص اوڅادر نه صرف یو لنګ ئې وهلې دې او د اوښانو مالش کوی۔

وفدکښې ورته چاعرض اوکړو چه امیرالمؤمنین دا کار به دې دچا غلام نه اخستې وو۔هغوی جواب ورکړو چه زما نه زیات غلام به څوک وی۔

دریم خلیفه سیدناعثمان رضی الله عنه دښیګړې په کارونو کښې به خپل مال بې دریغه خرچ کولو،په مدینه منوره کښې ئې

دخوړو اوبو يو کوهي واخستلو او دالله په لاره کښې وقف کړو او د هر جمعې په ورځ به ئې يو غلام آزادولو۔

څلورم خليفه سيدناعلى رضى الله عنه هم دخدمت خلق په جذبې سره سرشار وو۔کله به هم څوک سوالى دهغوى د دروازې نه خالى لاس نه تللو۔فرمائيل به ئې :

''جنت دهغه سړى شوق کوى چه څوک دخپل مومن رور حاجت پوره کوى''۔

دکنزالعمال يو حديث دې چه الله تعالى ته دټولو نه زيات دا عمل خوښ دې چه چامسکين باندې روټئ اوخوړلې شى۔ مسکين هغه دې چه دچا معاشى سهاره نه وى مثلاً کونډه ښځه،يتيم،مسکين۔ دمسکين حاجت پوره کول عظيم ثواب دې۔ ديو بل حديث نه واضح کيږى چه دکونډې ښځې او مسکين په ضرورت کښې کوشش کولو والا داسې دې لکه دالله تعالى په لاره کښې جهاد کولو والا۔

يورپ په دې وخت کښې(پخپل گمان کښې) د انسانيت د خدمت د پروپيګنډې کولو په نتيجه کښې ددنياوالو په نظر کښې يومقام حاصل کړې دې،هرکله چه په حقيقت کښې دهغوى نه زيات څوک خونى ځناور او دشيطانى صفت والا خلق په مخ دزمکه نشته دې۔ دخدمت خلق چه څومره هم شکلونه په يورپ کښې مرّوج دى هغه ټول دنبى عليه السلام اود صحابه کرام رضى الله عنهم اجمعين،د اُموى او عباسى دور يادونه دى۔

## د خدمت خلق جامع تصوّر:

دخدمت خلق تصور ډیرزیات وسیع او جامع دې۔ ددې دپاره دڅه دفتر یاشعبې قیام هم ضروری نه دې۔ ددې صرف همدا یو صورت نه دې چه په ګاډو کښې ډاکټران دوایانې یوسی او په څه ځاې کښې دمریضانو معائنه اوکړی،یا بیا مریضان دیوځاې نه بل ځاې ته اورسوی۔ددې دا مطلب هم نه دې چه مړې قبرستان پورې اورسوی یادغریب غرباء نه درخواستونه وصول کړی دهغوی مالی مدد اوکړې شی۔

اګرچه دا څیزونه په دې کښې دننه شامل کیدې شی،خودا د خدمت خلق ددې جامع تصور یو لویه مختصراو محدود حصه ده،دکوم تعلیم چه مونږ ته الله تعالی او دهغه رسول ﷺ راکړې دې،تصور ددې نه څه زیات جامع او وسیع دې۔

خدمت خلق..... دا لفظ الله او دهغه رسولﷺ صرف په دې معنو کښې استعمال کړې نه دې چه دانسانانو خدمت دې اوکړې شی بلکه په خلق کښې دننه انسان هم شامل دې او ځناور هم۔ په خلق کښې خو دالله تعالی هرمخلوق شامل دې۔دهغوی دښه سلوک او برتاؤ هدایات په قرآن مجیدکښې باربار راغلې دی او د نبی علیه السلام د تعلیماتو یو لویه حصه هم ددې متعلق ده۔ کچرې مونږ په دې باندې پوهه شو چه الله تعالی او دهغه رسول ﷺ خدمت خلق لره په خپل دین کښې او خپلوتعلیماتو کښې څه مقام ورکړې دې نودا به پخپله واضحه شی چه دخدمت خلق کار صرف په شعبوقائمولو یادقربانئ دڅرمنو په جمع کولو یاشفاخانې جوړولو سره نه پوره کیږی..... په دې

وجه چه کوم کار ته دومره عظم الشان مقام ورکړې شوې وی هغه صرف دومره خبرې پورې نه شی محدود کیدې!

مونږ ګورو چه دالله تعالی دمخلوق دپاره دځه کولو ذکر د ایمان نه پس دټولونه مخکښې کولې شی ـ مثلاً چرته چه د ایمان ذکر راځی،هلته دالله په لاره کښې د ورکولو ذکر هم وی۔د ورکولودپاره کله د''**ینْفِقُوْنَ**''لفظ راځی چه هغوی خرچ کوی۔ چرته د ورکولو لفظ راځی''**اٰتٰی**''یعنی هغه ورکړل۔اوچرته ددې ورکولو ډیرزیات صورتونه دی، د هغې ذکر به راځی۔ مثلاً خوراک خوړول،دخوراک خوړولو ترغیب ورکول،اوپه یوځاې خوراک خوړل وغیره ـ

داخبرهم دغور طلب ده چه ددې ذکر دایمان نه فورًا پس کیږی ګویاچه دا د ایمان یولازمی تقاضا ده بلکه د ایمان یوه حصه ده۔

د سورة بقرې په شروع کښې د ایمان نه پس داقامت صلوة تذکره ده چه دایمان عملی صورت دې ددې نه پس دادی چه ''مونږدوی ته کوم رزق ورکړې دې ددې نه خرچ کوی'' صفت ذکر راځی۔دا خبره هم واضحه ده چه د رزق نه مرادصرف مال نه دې رزق په معنی دعطاء ده بلکه رزق لفظ الله تعالی دمال نه علاوه دهر هغه څیز دپاره استعمال کړې دې چه هغه مونږته راکړې دې۔ زمونږ وخت هم دهغه رزق دې،عمرهم د هغه راکړې شوې رزق دې۔زړه او دماغ هم اوصلاحیتونه هم دهغه راکړې شوې دی۔ زمونږ بدن هم دهغه راکړې شوې رزق دې۔ غرض داچه زمونږسره څه هم دی بس دالله تعالی راکړې شوې دی۔صرف مال هم رزق نه دې۔مطلب دادې چه کوم څه د رزق په شکل کښې الله ورکړې دی،هغه خرچ کوی۔دا ئې د مومن یو صفت ګرځولې دې۔

دهولونه زیات مؤثر اوزوردار تصویرپه قرآن مجید کښې دآخرت تذکره کولو سره دهغه خلقوویستلې شوې دې چه په جهنم کښې به اچولې شی،چاته چه به دهغوی اعمال نامه په ګس لاس کښې ورکولې شی۔فرمائیلې دی:

او چا ته چه اعمالنامه دهغه په ګس لاس کښې ورکړې شی۔ هغه به وائی کاش چه زما اعمال نامه ماته نه وې راکړې شوې او زه نه پوهیدم چه زما حساب څه څیز دې۔کاش چه زما مرګ (په دنیا کښې) فیصله کړې وې،نن زما مال زما څه پکار رانغلو۔ زما ټول اقتدار ختم شو۔(حکم به اوشی) ده لره اونیسې په څټ کښې ورته طوق واچوئ،او جنهم کښې غوټه ورکړئ،بیا ده لره اویا لاسه اوږد زنځیرکښې اوتړئ ۔

اِنَّهٗ لَا يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ الْعَظِيْمِ ، وَلَا يَحُضُّ عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ

"ده نه په الله رب العزت ایمان راوړو او نه ئې په مسکین باندې د خوراک خوړَولو ترغیب ورکوو"۔

لهذا نن دلته دده نه څوک یارغم خوار شته اونه د زخمونو د زوؤ پیپ نه علاوه دده څه خوراک شته،چه هغې لره د خطاکارو نه علاوه بل څوک نه خوری۔ [الحاقہ:۲۵ تا ۳۷]

دلته هم د بس دهغه دوؤ خبرو ذکر کړې شوې دې،یعنی ایمان نه راوړل او مسکین باندې دخوراک خوړَولو ترغیب نه ورکول۔ دغه شان په سوره مدثر کښې دی چه کوم خلق په جهنم کښې واچولې شی دهغوی نه به اصحاب الیمین چه په جنت به وی تپوس اوکړی:

مَا سَلَكَكُمْ فِيْ سَقَرَ ۔ قَالُوْا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّيْنَ وَلَمْ نَكُ نُطْعِمُ الْمِسْكِيْنَ وَكُنَّا نَخُوْضُ مَعَ الْخَآئِضِيْنَ وَكُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوْمِ الدِّيْنِ ۔ حَتّٰى اَتٰىنَا الْيَقِيْنُ [المدثر:۴۰ تا ۴۷]

”تاسو څه څیز دوزخ ته راوستلې؟ هغوی به وائی مونږ مونځ نه کولو،او په مسکین به مو خوراک نه کولو،او دحق خلاف خبرو جوړولو والاسره به مونږ هم یوځاې خبرې جوړولې،او دجزاء ورځ لره به مو دروغ ګنړله،تردې چه مونږ هغه یقینی څیز(قیامت) سره مخامخ شو“۔

دلته هم اول دمونځ ذکر راغلو چه دایمان عملی ثبوت دې او ددې نه سمدست پس دا چه مونږ په مسکین باندې خوراک نه کولو.... داهم ډیر صفا صفا وائی چه دالله په نظر کښې دمخلوق دخدمت څه مقام دې۔

**خدمت خلق ، ددین مقصد:**

کچرې دا دعوٰی اوکړې شی چه دیو اړخ نه دټول دین مقصد هم خدمت خلق دې نوداخبره به غلطه نه وی۔ددین مقصد جهنم ته د غورزیدو نه بچ کول دی۔کچرې دچا کور سوزوی او هغه بچ کړې شی نو دا خدمت خلق دې،او کچرې دمرګ نه پس هغه اُورته پریوتلو والا وی او هغه بچ کړې شی نو آیا داخدمت خلق نه دې؟ یقینًا همدا خدمت خلق دې۔ د دعوت تعریف هم دادې۔ خو خبره دومره نه ده بلکه الله تعالی فرمائیلې دی چه ماخپل رسول په دې وجه لیږلې وو او کتابونه مې په دې وجه نازل کړې وودې دپاره چه خلق په انصاف باندې قائم شی۔ ګویاداهم خدمت خلق دې،خلقو لره په انصاف باندې قائمول او دخلقو په مینځ کښې انصاف قائمول،فی الواقع ددې نه زیات خدمت نورڅه کیدې شی۔همدا د رسولانو مقصد ګرځولې شوې دې همدا دکتابونو نازلیدو مقصد ګرځولې شوې دې،اوهمدا دمومنانو دجماعت مقصد ګرځولې شوې دې چه خلق په انصاف باندې قائم شی۔دالله تعالی ارشاد دې:

لَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنٰتِ وَاَنْزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتٰبَ وَالْمِيْزَانَ لِيَقُوْمَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ۔

[الحديد :۲۵]

"مونږ خپل رسولانو لره صفاصفا نښو او هداياتو سره اوليږل،اودهغې سره مو کتاب او تله نازل کړه دې دپاره چه خلق په انصاف قائم وی"۔

په دې لحاظ سره دې اوکتلې شی نو ددين پوره مقصد هم خدمت خلق دې۔ددې ذکر د ايمان سره سره نه دې،بلکه بعضې ځايونوکښې ددې دايمان نه مخکښې ذکرکړې شوې دې لکه چه په سورة مدثرکښې دی۔بعضې آياتونه چه بالکل دابتدائی دور دی په هغې کښې هم ددې هدايت کړې شوې دې مثلاً:

وَاَمَّا مَنْۢ بَخِلَ وَاسْتَغْنٰى۔ وَكَذَّبَ بِالْحُسْنٰى۔ فَسَنُيَسِّرُهٗ لِلْعُسْرٰى [اليل:۵تا۱۰]

"چاچه دالله په لاره کښې مال ورکړو او دالله تعالی دنافرمانئ نه ئې پرهيز اوکړو،او ښيګړه ئې رښتيا اومنله،هغه ته به مونږ د آسانې لارې سهولت ورکړو"۔

يعنی چه څوک دالله په لاره کښې مال ورکونکې وی، اخستونکې نه وی،الله تعالی چه څه اوخومره ورکړې وی دهغې نه خرچ کونکی وی دسائل او مستحق مدد کونکې وی،دالله تعالی دنافرمانئ نه بچ کيدو والا او تقوی اختيارونکې وی او دښې خبرې تصديق کونکې يعنی ايمان راوړونکې وی،دهغه دپاره به الله تعالی دجنت لاره آسانه کړی۔

بعضې آيتونه داسې دی چه دهغې نه معلومه ده چه د ايمان اوعمل خو تعبيرهم دادې چه سړې دالله تعالی دبندګانو خدمت اوکړی۔

اَرَيۡتَ الَّذِیۡ يُکَذِّبُ بِالدِّيۡنِ۔ فَذٰلِكَ الَّذِیۡ يَدُعُّ الۡيَتِيۡمَ۔ وَلَا يَحُضُّ عَلٰی طَعَامِ الۡمِسۡكِيۡنِ۔ فَوَيۡلٌ لِّلۡمُصَلِّيۡنَ۔ اَلَّذِيۡنَ هُمۡ عَنۡ صَلَاتِهِمۡ سَاهُوۡنَ۔ اَلَّذِيۡنَ هُمۡ يُرَآءُوۡنَ۔ وَيَمۡنَعُوۡنَ الۡمَاعُوۡنَ۔

[سورة الماعون]

"تاچرته دهغه سړی په باره کښې غور کړې دې چه دآخر جزا او سزا لره دروغ ګڼړی؟ هغه خو هغه دې چه يتيم ته به ئې ديکې ورکولې اومسکين ته به ئې دخوراک ورکولو دپاره ترغيب نه ورکولو۔بيابربادی ده دهغه مونځ کونکی دپاره چه دخپل مونځ نه غافله وی،چه خودنه کوی، او معمولی دضرورت څيزونه(خلقوته) د ورکولو نه ځان ساتی"۔

دقيامت دروغ ګڼړل څه دی؟ يتيمانو ته ديکې ورکول او مسکينانوباندې دخوراک نه خورَولو ترغيب نه ورکول،دا دقيامت دروغ ګڼړل دی۔دا نه دی چه سړې اودريږی او وائی چه زه قيامت نه منم۔ اګرچه څوک په ژبې سره دقيامت اقرار کوی خو دچاعمل داوی نودا عملاً قيامت لره دروغ ګڼړل دی۔داسې ګويا دپوره ايمان تعبير خدمت خلق جوړشو، د عبادت تعبيرهم دادې ۔ دمونځ نه غفلت دادې چه مونځ صرف د خودنې دپاره اوکړی،په دې کښې دبندګۍ روح نه وی۔او دمعمولی څيزنه مراد روزمره د استعمال څيزونه سړې دبخل په وجه سره منع کړی۔

يوبل ځاې کښې دجهنم د اُور نه د بچ کيدو او جنت ته د داخليدونکو تذکره داسې کړې شوې ده:

وَمَآ اَدۡرٰكَ مَا الۡعَقَبَةُ۔ فَكُّ رَقَبَةٍ۔ اَوۡ اِطۡعٰمٌ فِیۡ يَوۡمٍ ذِیۡ مَسۡغَبَةٍ۔ يَّتِيۡمًا ذَا مَقۡرَبَةٍ۔ اَوۡ مِسۡكِيۡنًا ذَا مَتۡرَبَةٍ۔ ثُمَّ كَانَ مِنَ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَتَوَاصَوۡا بِالصَّبۡرِ وَتَوَاصَوۡا بِالۡمَرۡحَمَةِ۔ اُولٰٓئِكَ اَصۡحٰبُ الۡمَيۡمَنَةِ۔

[البلد:۱۲ تا ۱۸]

"اوتاسوته څه پته ده چه څه ده هغه سخته وادی؟ هغه يوښت لره دغلامۍ نه خلاصول،یا د لوږې په ورځ چا نزدې يتيم يا د خاورو اوسیدونکی باندې خوراک خورَول دی۔ بیاددې سره دا چه سړې په هغه خلقو کښې شامل شی چه ایمان ئې راوړلو اوهغوی يوبل ته دصبراو(په مخلوق خداباندې) د رحم کولو تلقین اوکړو۔دا خلق دی دښی اړخ والا "۔

**دخدمت خلق مقام :**

ددې نه پس دخدمت خلق په دین کښې دمقام په باره کښې څه شک پاتې کیږی۔ دا کار خو دومره اهم دې چه دانسان پوره ژوند، سوچ، ذهن،زړه او دماغ،غرض هرڅیز ددې عکاسی کیدل پکار دی نه داچه سړې یوه شعبه قائم کړی یاڅرمنې جمع کړی مطمئن شی، یاڅودرخواستونه واخلی اوګنړی چه مونږ دخدمت خلق کار اوکړو۔ ددین د تعلیم نه خو دا نه معلومیږی چه خدمت خلق څه وړوکی څیز دې بلکه دا کار په خپل ځان کښې ډیرلوې جامعیت او وسعت لری۔

دخدمت خلق چه کوم تصور مونږ په خپل ذهنونوکښې ساتلې دې هغه ډیر محدود او ناقص دې۔دې لره د وسیع کولو ضرورت دې۔په دې کار باندې چه کوم اجر وثواب دې،ددې تصور اوکړئ چه څومره عظیم الشان دې......ددې دحاصلیدو فکر کول پکار دی۔

دا اهمیت ولې دې؟کچرې مونږ غور اوکړو نو زمونږ پوره ژوند دمخلوق سره تړلې شوې دې۔ خالق خو مونږلیدلې نه دې اوخالق سره مونږ خپل تعلق په سوچ وفکر،په قصد اوپه ډیر مشکل اوکوشش سره قائموو،خو مخلوق سره زمونږ رشته دپیدا کیدو نه مخکښې قائمیږی۔ د

انسانی ژوند هره لمحه د نورو سره تړلې شوې ده،دانسان سره،ځناورو سره، او د الله د مخلوق سره،کچرې دین پوره ژوند دالله تعالی په بندګۍ کښې د ورکولو نوم دې، نو د ژوند د ۹۰نه ۹۵فیصده حصه د خلق سره په تعلق باندې مبنی ده۔

ددې تعلق جرړه په زړه کښې ده،په ایمان کښې ده،لکه څنګه چه تخم د زمکې نه راخیژی،دغه شان چه کله ایمان راخیژی اونه جوړیدو سره راوځی اودهغه ټول ښاخونه چرته نه چرته دالله دمخلوق سره تعلق قائمول به وی۔ سړې په کور کښې وی،په پټی کښې وی،حکومت کښې وی،نوکرکوی،غرض داچه څه کار هم کوی،ددې واسطه انسانانو سره پریوځی۔ کورته چه ځی نو ښځه بچی وی،مسجدته چه ځی نو مونځ ګزار وی،دکان ته ځی نو ګاهک راځی..... هیڅ کار هم داسې نشته چه چرته دهغې تعلق مخلوق سره نه وی۔ دمخلوق سره ددې تعلق دده د ژوند یوه یوه لمحه تړلې ده۔په دې وجه دمخلوق خدا خدمت ته دا مقام ورکړې شوې دې۔

**خدمت خلق:**

په که په انفرادی طور باندې غور اوکړې شی نو دخدمت خلق چه کوم تصور او مفهوم الله اود هغه رسول ﷺ مونږ ته خودلې دې هغه ډیر جامع او وسیع دې۔ دنبی علیه السلام ډیر ارشادات دی،چه په هغې کښې نبی علیه السلام د ډیرداسې طریقو تعلیم ورکړې دې،چه په هغې سره سړې دمخلوق خدمت کولې شی۔ دې ټولو لره که مونږ جدا جدا کړو نو دخدمت خلق ډیر زیات اړخونه مونږته معلومیدې شی۔

**اول صورت: چاته تکلیف نه ورکول:**

دخدمت خلق دټولو نه کم درجه خو شائد دټولو نه اهم درجه همدا ده چه سړې دخپل ذات نه چاته تکلیف اونه رسوی۔

مونږ که هیڅ هم خدمت نه شو کولې،خو دخدمت ددې اړخ نه څه عذر نه شو پیش کولې۔یوسړې اووائی چه زما په جیب کښې پیسه نشته، خوراک څنګه (په خلقو) اوخوَروم؟ وخت نه ملاویږی خدمت څنګه اوکړم؟ دیتیمانو او کونډو خیرخبر څنګه واخلم؟ خو هیڅ یوانسان داسې نشته چه دهغه دوس نه دا څیزونه بهر وی چه دخپل ذات نه نورو خلقو ته تکلیف اونه رسوی۔په دې هیڅ هم نه خرچ کیږی سوا ددې چه دده په زړه کښې څه څیزونه وی چه هغې لره قربانول وی۔ هغه بعضې وخت زیات مشکل شی۔لهذا د مخلوق اول خدمت دادې چه سړې چاته څه تکلیف اونه رسوی۔په یو اوږد حدیث کښې نبی علیه السلام د ډیر څیزونو تعلیم ورکړې دې نو خلقو اووئیل چه کچرې مونږ دا هم اونکړې شو۔ نو نبی علیه السلام اوفرمائیل نو بیا کم نه کم دخپلې بدئ نه نورولره بچ کړه او نورو ته دتکلیف رسولو نه ځان اوساته۔

عَلٰى كُلِّ مُسْلِمٍ صَدَقَةٌ۔ قَالُوْا يَانَبِيَّ اللهِ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ قَالَ يَعْمَلُ بِيَدِهٖ فَيَنْفَعُ نَفْسَهٗ وَيَتَصَدَّقُ قَالُوْا فَاِنْ لَمْ يَجِدْ قَالَ يُعِيْنُ ذَا الْحَاجَةِ الْمَلْهُوْفِ قَالُوْا فَاِنْ لَمْ يَجِدْ قَالَ فَيَعْمَلُ بِالْمَعْرُوْفِ قَالُوْا فَاِنْ لَمْ يَفْعَلْ فَيُمْسِكْ عَنِ الشَّرِّ فَاِنَّهَا لَهٗ صَدَقَةٌ۔ [بخاری ومسلم]

”نبی علیه السلام اوفرمائیل : دهرمسلمان په ذمه صدقه کول دې (خو چونکه هرسړې دمال او طاقت خاوند نه وی په دې وجه) صحابه رضی الله عنهم تپوس اوکړو چه کچرې یوکس په مالی طور باندې کمزورې وی او دصدقې وس نه لری نو نبی علیه السلام

اوفرمائیل چه داسې چه مالی وس نه لری هغه دې محنت اوکړی او دخپلې ګټې څه حصه دې په خدمت خلق کښې اولګوی یاچاغم زپلې حاجت مندسره دې تعاون اوکړی دهغه بوج دې پورته کړی یادې خلقو ته دنیکې خبرې اوښائی او د بدو کارونو نه دې خبردار کړی کچرې دا هم نه شی کولې نو کم نه کم دخپل شر نه دې نوررولره محفوظ کړی که فائده نه شی ورکولې نو نقصان دې هم نه رسوی".

دبعضې علماؤ په نزد ټول شریعت په دې اصول باندې قائم دې۔ دشریعت چه څومره هم احکام دی دنکاح وطلاق مسئله وی یادحکومت دطرز،دتجارت آداب وی یاکومې شعبې سره هم متعلق وی چه کوم تعلیم ورکړې شوې دې دټولو بنیادی اصول همدا دې چه هیڅ یو مخلوق خدا ته تکلیف اونه رسی تردې پورې چه دخپلې ژبې،لاس او خپې نه هم۔ تردې پورې حکم دې چه که درې سړی وی،نو دوه سړی دی ځانله کیدو سره خبرې نه کوی۔ ددې حکمت هم دادې چه دریم ته به تکلیف وی۔ سړې کچرې دچا کورته لاړشی نو درې ځله دې دروازه اوټکولې شی دروازه کهلاؤ نه شی نو واپس دې شی،بغیر داجازت نه دې نه داخلیږی۔داهم په دې وجه دی۔ ددې نوعیت ددین بې شماره احکامات دی،په کوم حکم چه هم غور اوکړې شی خواه هغه دڅه دائرې سره تعلق لری همدا حکمت به واضح شی چه انسان دې انسان ته تکلیف نه رسوی۔یو انسان بل انسان ته تکلیف نه رسوی۔ د خدمت خلق بنیاد او روح همدا دې۔

کچرې پوره شریعت لره فی الحال یو طرفته هم کیږدې خو هرسړې کم نه کم دا اراده اوکړی چه دخپل کارنه،خپلې خبرې نه،

اودخپل ذات نه چاته تکليف اونه سوی نوداهم به ډير لوي خدمت وی۔ په دې سره به زمونږ کور،زمونږ محلي،زمونږ کلی او زمونږ معاشره او زمونږ ژوندون دومره پرسکون او بابرکت ژوند جوړشی چه ددې تصور هم نه شی کیدلې ۔چه مونږ دخپلې ژبې نه هغه خبره نه اوباسو چه په هغې سره دچا زړه اودړدیږی۔ هغه کار اونکړو چه په هغې سره چاته تکليف اونه رسی۔ په مخ باندې داسې څه تاثر پيدا نه کړی چه په هغې سره دچا دل آزاری کیږی۔ چاته په سپک نظر سره نه کتل چه په دې سره هغه ته تکليف وی..... دا ټول تعليمات زمونږ په دين کښې په پوره تفصيل سره موجود دی اوپه دې کښې همدا بنيادی اصول دکار دی ۔

دخدمت خلق په حوالې سره دټولو نه مخکښې داخبره ده چه ددې نه هيڅ څوک سړې هم انکار نه شی کولی چه دا زما دوس نه بهر دی يا ماسره وسائل نشته، يا پيسې نشته،په دې وجه ديوې شعبې يا شفاخانې يا ايمبولينس،ياخرمنو جمع کولو ضرورت نشته۔ صرف ددې مقررکولو ضرورت دې چه زما د ذات نه چاته تکليف نه وی۔ دچاسره چه هم ميل جول وی يا ملاقات وی،خواه نزدې رشته دار وی يادلرې، مورپلار وی يانبځه بچی،کارکونکې نوکر وی ياپه دفترکښې کارکونکې ملګرې ياماتحت..... دځلې نه څه داسې خبره اونه ځی يادلاس نه څه داسې حرکت اونه شی په کوم سره چه چاته څه تکليف اورسی۔ داخبره په دې وجه ضروری ده کچرې دا خبره نه وی نودلوې لوې خدمت خلق کارونه هم ضائع کيدې شی۔ خلقوته تکليف رسول دکينسردبيمارئ په شان دې۔ دلوې لوې نيک کارونوسره کچرې دا بيماری اولګی نوټول اعمال ضائع اوبې کار کیږی۔

## څو احتياطونه:

دخدمت خلق دپاره يو لفظ چه په قرآن وحديث کښې استعمال شوې دې،هغه دصدقې لفظ دې۔ دصدقې نه مراد صرف پيسه ورکول نه دی يادا صرف خيرات کول نه دی،بلکه دصدقې لفظ کې دننه ډيرې زياتې خبرې شاملې دی۔ په قرآن مجيد کښې دصدقې لفظ هم استعمال شوې دې او د انفاق لفظ هم راغلې دې۔ دا دڅو احتياطونو متقاضی دې ۔

۱۔ د الله په لاره کښې خواه څومره مال دې ورکړې وی،ددې خرچ کولونه پس په خلقوباندې احسان زباتل،تکليف دې ورکړونوټول انفاق ، او ټول خدمت خلق دې بې کاره کيږی۔

۲۔ کوم خلق چه په دفتر کښې ناست دی اووائی چه مونږ تاسره دومره کړې دی،نو هغه ټول هرڅه ضائع کيږی۔ اوڅوک چه داسې خبره اوکړی چه په هغې سره اخستونکی ته دچاچه خدمت کيږی تکليف اورسی يا بدرد دې ورته اووئيل نوپه دې سره ټول اعمال ضائع کيږی۔په دې وجه کوشش کول پکار دی چه نورو ته د تکليف رسولونه ځان اوساتلې شی،دخدمت خلق دپاره دا لازمی او ضروری ده۔ کچرې سړې څه کارهم اوکړې،دچاهم اوکړې،دلوې نه لوې خدمت اوکړی ددې نه پس تکليف اورسوی نو ټول هرڅه ضائع کيږی۔

۳۔ دمورپلار ئې ډير خدمت اوکړو خوروستوئې ورته بدې رد اوئيلې يابدتميزی ئې اوکړه نوټول هرڅه به ضائع شی۔ داخبره دقصاص په دائره کښې هم راتلې شی۔

۴۔ دنوکر ئې ډير خيال اوساتلو،هغه ته ئې جامې ورکړې، پيسې ئې

ورکړې خو په ولاړه ولاړه ئې دهغه بې عزتي اوکړه،دغه شان سړې چه څه هم دهغه د بې عزتئ اوکړل ټول ضائع کيدې شی۔

په دې وجه دټولو نه اول خبره دکوم په باره کښې چه انسان ته سوچ کول پکار دی هغه دادی چه زما نه څه داسې خبره اونه شی چه په هغې سره نورو ته تکليف اورسی۔دا دخدمت خلق هغه صورت دې چه په مونږ کښې هرسړې کولې شی،د چا هم د وس نه بهر نه دی۔ په دې کښې نه پيسه لګی،نه وخت،بس صرف دخپل نفس قربانی ورکول به وی۔ غصه راځی،انتقام اخستل زړه غواړی،هغه وخت خپل ځان قربان کول،په نفس باندې قابو موندل،دا ډيره لويه خبره خوضروری ده خو دخدمت خلق په لاره کښې بهرحال اول څيز دې۔

**دويم صورت: انفاق فی سبيل الله:**

د خدمت خلق يواصول انفاق فی سبيل اللّٰه دې۔په اصل کښې دا خدمت خلق اوچت جز دې۔ خدمت خلق د ورکولو،خرچ کولو، انفاق او ايتاء نوم دې۔

خوراک خورَول،علاج کول،خدمت کول او عيادت کول ...... ټول په دې کښې راځی۔خواصل څيز دادې چه سړې پخپله خود غرض نه وی بلکه ورکولوته تياراوسی،په ورکولو کښې چه سړی ته کوم څيز دټولو نه زيات خوښ دې هغه مال دولت دې۔هسې خو وخت او نور ډيرڅيزونه انسان ته خوښ وی خو دعزت او آبرو نه پس دټولو نه خوښ څيز پيسه وی۔ په دې وجه چرته چه هم دخدمت خلق ذکر راغلې دې هلته د بهترين څيز خرچ کولوحکم راغلې دې۔

څنګه چه دالله تعالی په قرآن کريم کښې ارشاددي : "لَنۡ تَنَالُوا الۡبِرَّحَتّٰى تُنۡفِقُوۡا مِمَّا تُحِبُّوۡنَ"او ورسره هلته دولت لره د سینست سینست (شمارشمار) ساتلو نه هم منع فرمائيلې شوې ده،يادې بدی بیان شوې ده۔په سورةالهمزه کښې دی :

وَيۡلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةِ ۣالَّذِىۡ جَمَعَ مَالًا وَّعَدَّدَهٗ۔

"تباهی ده دهر هغه سړی دپاره چه (په مخامخ) په خلقو کښې باندې طعن او(پیشې شا) دغیبت کولو ئې عادت دې،داهغه کس دې چا چه مال جمع کړو او په شمارلوشمارلو ئې ايږدی"۔

ګویامال جمع کول،هغې لره په شمارشمار ایخودل،بنک بیلنس شمارل،اودخپل مال نه تهيلئ او المارئ ډکول ايخودل چه دهغې نه حقدار ته حق ورنکړې شی انفاق اونکړې شی۔ دا يو ناخوښه عمل دې ۔قرآن مال جمع کولو لره دې خبرې سره تړلې دې چه داسې سړې خلقو ته د پیغور ورکولو او بدو ردو وئیلو عادی وی او هغوی ته تکلیف رسوی۔ګویا نورو ته تکلیف رسولونه شاته هم دمال محبت محرک وی۔

په یوبل مقام باندې د انسانی نفسیاتو ذکر کولو سره الله تعالی فرمائی چه کله مونږ انسان ته عزت اونعمت ورکوو نو هغه وائی چه زما رب زه عزت دارجوړکړم،اوکله چه آزمائش کښې ئې واچوؤ اودهغه رزق تنګ کړو نو هغه وائی چه زما رب زه ذلیله کړم۔

خو حقیقت څه دې،ددې نشاندهی قرآن داسې کوی:

كَلَّا بَلۡ لَّا تُكۡرِمُوۡنَ الۡيَتِيۡمَ۔ وَلَا تَحٰٓضُّوۡنَ عَلٰى طَعَامِ الۡمِسۡكِيۡنِ۔ وَتَاۡكُلُوۡنَ التُّرَاثَ اَكۡلًا لَّمًّا وَّتُحِبُّوۡنَ الۡمَالَ حُبًّا جَمًّا [الفجر:۱۷تا۲۰]

”هيڅ کله داسې نه ده،بلکه تاسو يتيم سره دعزت سلوک نه کوئ،اوپه مسکين باندې دخوراک خورَولودپاره يوبل ته ترغيب نه ورکوئ،او د ميراث ټول مال راغونډلو سره خورئ،او دمال په محبت کښې په بدې طريقې سره ګرفتارئې“۔

دلته هم دمال محبت نوروته تکليف ورکول،د دواړو ذکر يوځاې کړې شوې دې۔

د نيکۍ تعريف په قرآن مجيد کښې،په يومقام باندې داسې کړې شوې دې۔

لَيۡسَ الۡبِرَّ اَنۡ تُوَلُّوۡا وُجُوۡهَکُمۡ۔۔۔وَ اُولٰٓئِکَ هُمُ الۡمُتَّقُوۡنَ۔ [البقره :۱۷۷]

”نيکی دا نه ده چه تاسو خپل مخونه مشرق طرفته کړل، يا مغرب طرفته بلکه نيکی داده چه سړې الله تعالی،دآخرت ورځ، ملائکه،کتاب الله او پيغمبرانولره دزړه نه اومنی اود الله په محبت کښې خپل دزړه خوښ مال په رشته دارانو، او يتيمانو،مسکينانو او مسافرو باندې او دمدد دپاره لاس خورونکو باندې د غلامانو په آزادولو باندې خرچ کړئ،مونځ قائم کړئ،او زکوة ورکړئ۔او نيکان هغه خلق دی چه کله عهد اوکړی نوهغه پوره کړی،او دتنګۍ او د مصيبت په وخت اودحق اوباطل په جنګ کښې صبر اوکړی۔دادی صحيح خلق او او همدا خلق متقيان دی“ ۔

دلته هم الله،دقيامت ورځ،ملائکه، کتاب اوپيغمبرانو باندې د ايمان راوړلونه پس چه دکومې خبرې تذکره کړې ده هغه داده چه دالله محبت کښې خپل د زړه خوښ مال په رشته دارانو نادارو محتاج خلقو باندې خرچ کړی،دمونځ ،زکوة او جهاد حکم ددې نه پس ورکړې

شوې دې۔ددې نه هم دالله په لاره کښې مال خرچ کولو اهمیت واضح کیږی۔

د عَلٰی حُبِّهٖ معنیٰ ده: دالله په محبت کښې مال ورکول،دمال دمحبت باوجود ورکول۔ په دواړو کښې زیات فرق نشته دې۔ د مال دمحبت باوجود سړې مال هغه وخت ورکولې شی چه کله دمال نه زیات بل څیز خوږ شی،اوهغه دې الله،دالله په محبت کښې هم سړې هغه وخت ورکولې شی چه کله دمال محبت دالله دمحبت نه کم وی،مقصد دادې چه کوم مال مونږ ته الله راکړې دې،کوم سره چه زمونږ زیات محبت دې،هغې لره دالله په لاره کښې په نورو باندې خرچ کول پکار دی۔ لهذا د کنجوسۍ نه دمال بچ کولو په ځاې په کهلاؤ زړه اوکهلاؤ لاس دالله په لاره کښې ورکول،دا دخدمت خلق دویم صورت دې۔دا څیز نه وی نو د اجتماعی کارونو عمارت اودرولو سره دخدمت خلق دکار هغه حق نه ادا کیږی کوم چه الله اودهغه رسولﷺ په مونږ باندې مقررکړې دی۔

داسې به ولې نه وی غریب یا ضرورت مند خلق هم د الله تعالی بندګان دی۔الله تعالی اود هغه رسولﷺ دهغوی دښیګړې دپاره صرف ترغیب نه دې ورکړې بلکه څه څیزونه مثلاً زکوة ئې فرض کړې هم دې او د ډیر ګناهونو (مثلاً قسم ماتول،روژه ماتول وغیره) کفارې ئې هم داسې ایخودلې دی چه په هغې سره دغریبو مدد اوکړې شی۔

**مال نه ،بلکه د زړه وسعت:**

د مال ورکولو دپاره دمال کیدل ضروری دی،خو اصل ضرورت ددې خبرې دې،چه په زړه کښې ځاې کیدل پکار دی۔ نبی علیه السلام دې اړخ لره داسې واضح کړې دې چه یوه ورځ به راځی چه

سړې به دالله پاک مخې ته اودریږی چه په مینځ کښې به څه پرده نه وی مخامخ به وی او اُور به شغلې وهی۔ سوچ به کوی چه اُور نه به څنګه بچ شم؟ ښی او ګس طرفته به سهاره ګوری۔بیابه ګوری ما چه کوم مال په دنیا کښې مخکښې رالیږلې دې په هغې کښې څه هم نشته سوا دعمل نه۔ بیا نبی علیه السلام اوفرمائیل دهغې :

اُور نه بچ شئ..... اګرچه د کهجورئ په یو ټکړه ورکولو سره هم بچ کیدې شئ نوبچ شئ۔

یعنی اُور نه دبچ کیدو دپاره خواه دکهجورې یوه ټکړه ورکړې شی یاچه صرف یوه پیسه،چه څه هم وی ورکول پکار دی۔دالله په نزد اجر د مقدار په بناء باندې نه دې بلکه د ورکولودنوعیت په لحاظ سره به ملاویږی۔

کچرې دومره مفلس او کنګال ئې چه څه هم نه شې ورکولې نو کم نه کم په دې خبره باندې خفاشه چه ما ورنکړې شو۔ په سترګه کښې اوښکه او په زړه کښې افسوس وی چه کاش ماسره څه وې نو مابه ورکول ددې هم ډیر لوې اجر وثواب دې۔

خپل مال قربانول،دالله په لاره کښې ورکول،اودمال محبت د زړه نه ویستل..... ددې نه بغیر خدمت خلق نه شی کیدې۔دمال محبت په زړه کښې وی نو سړې دوخت په باره کښې هم کنجوس وی۔دبدنی صلاحیتونو په استعمال کښې هم کنجوس وی اوترجیحات هم بدلیږی،غرض ډیرې زیاتې کنجوسئ راځی۔دغه شان کچرې دمال په باره کښې زړه کهلاؤ وی نودهرڅیزپه باره کښې زړه کهلاؤ وی۔دبخیل په کردار کښې هرقسمه خرابیانې راځی اوپه سخی سړی کښې لوې

خوبیانې موندلې شی۔ زړه دومره فراخه وی چه کوم دولت الله تعالی درکړې دې څومره هم ئې ورکړې دې خواه د کهجورئ یوه ټکړه هم ورکولې شی،دالله په لاره کښې ئې ورکړئ۔

اِتَّقُوالنَّارَ وَلَوْكَانَ بِشِقِّ التَّمَرِ۔۔دادې دخدمت خلق روح!

## دریم صورت: ښه خبره کول:

دریم څیز دادې چه سړې داسې خبره اوکړی چه دنورو زړه لره خوشحاله کړی،هغوی ته فائده اورسوی۔ په یو حدیث کښې داخبره هم وئیلې شوې ده کچرې دکهجورئ یوه ټکړه هم دالله په لاره کښې د ورکولو دپاره نه وی نو د ښه خبرې په ذریعې سره دهغې اُور نه بچ شئ۔کم نه کم داخبره خوداسې ده چه هرسړې ئې ضرور کولې شی۔ یوه ښه اوخوږه خبره دخُلې نه په ویستلوکښې نه پیسه لګی،نه بل څه لګی۔ په مسکې کیدلوملاویدوسر،په مُسکې کیدوکتلو سره،په ښه او خوږه خبره کولوسره څه هم نه خرچ کیږی۔ بیاسړې په دې کښې بخل ولې اوکړې،دکنجوسئ او زړه تنګئ مظاهر ولې اوکړې۔

په ښه خبره کولو سره د سړی زړه څومره خوشحالیږی، ددې اندازه په دې خبرې سره لګولې شې چه په پیسه ورکولو سره هغه فائده نه کیږی،کومه چه په خوږه خبره کولوسره کیږی۔ په پیسه منع کولو سره په زړه باندې هغه زخم نه لګی کومه چه ترخه خبرې سره لګی۔دترخې خبرې زخم په څه طریقې سره هم نه ټیک کیږی۔

دتورې یا دټوپک زخم په دوایانو سره ټیک کیږی ډک کیږی،خو دترخې خبرې زخم چه کله په زړه باندې اولګی نو هیڅ یو مرهم په دې کار نه کوی۔ دارنګه که دکهجورئ ټکړه هم نه وی نو نبی علیه السلام اوفرمائیل چه بیا په ښه خبره سره خپل ځان داُور نه بچ کړئ۔

**څلورم صورت: صلاحیتونه لګول:**

دخدمت خلق يوصورت دادې چه الله تعالى انسان ته کوم وخت،بدن ځان،صلاحیتونه ورکړې دی هغه دالله په لاره کښې اولګوی۔ د دې بې شماره صورتونه دی۔نبی علیه السلام دخپلې زمانې په مناسبت سره هغې لره بیان فرمائیلې دی او دهغې تعلیم ئې ورکړې دې۔

نبی علیه السلام اوفرمائیل کچرې د رور په ډول کښې اوبه واچوئ، نو داهم خدمت خلق دې۔کچرې دچا لاس اونیسې او په سوارلئ ئې کینوئ،نودا هم خدمت خلق او صدقه ده۔ کچرې ړوند ته لار نه ملاویږی،تا هغه ته لار اوخودله نو دا هم د خدمت خلق کار دې۔ دچادپاره دې څه اوګټل دهغه خدمت دې اوکړو، مالی مدد دې اوکړو،نو داهم خدمت خلق دې۔ چاله سودا راوړل، دا هم خدمت دې۔داسې بې شماره صورتونه دی په کوم سره چه سړې دخپل بدن او ځان خدمت کولې شی۔

محله کښې دننه څوک بوډا،بوډئ ده،یاکونډه یتیم دې په تلو تلو کښې دې دهغه نه دطبیعت تپوس اوکړو۔دا هم ډیره لویه خبره ده کوم لره چه خلق نه کوی۔ حالانکه په دې کښې هم ډیرخدمت خلق دې ۔ ممکن ده چه هغه څه غواړی خو دومره ترې تپوس اوکړه چه اماجی سودا خو نه راوړې۔ دا تپوس به هم دهغې زړه خوشحاله کړی۔دهغوی د حال احوال تپوس اوکړه،خپل خدمت ورته پیش کړه،کچرې څه خدمت یا کار وی زما لائق نو وایه ۔ د هغوی په خوشحالئ سره به الله رسولﷺ خوشحاله شی. دا داسې خوشحالی ده چه په مونځ، روژه یا تسبیح وتهلیل

سره نه حاصلیږی بلکه دالله تعالی د بندګانو په خوشحالولو سره الله او د هغه رسول ﷺ خوشحالیږی ۔

دا ټول دخدمت خلق انفرادی صورتونه دی چه یو فرد خپل لاس سره ته رسولې شی۔ ددې ذکر مخکښې ځکه اوکړې شو چه کوم یو اجتماعی کار وی خواه څه شعبه د خیربښیګړې اداره قائم کړې شی،څه شفاخانه جوړه کړې شی،څرمنې جمع کړې شی،سکول جوړکړې شی، مدرسه جوړه کړې شی،یاڅه مسافرخانه یتیم خانه کښې کا اوکړې شی دهغې دپاره باقاعده اداره او دفتر قائم کړې شی او په منظم طریقې سره خدمت اوکړې شی۔همدا خلق دا اجتماعی کار سرته رسولې شی، خو که دا اوګنړلې شی چه مونږ صرف داجتماعی ډهانچو په قیام سره دخدمت خلق حق به ادا کړواو زمونږ دفتر او منظّم طریقه کار نشته دې نو پاس ذکرشوې کار په انفرادی طور باندې کول خدمت خلق دې،ددې په ادا کولو سره تاسو دخدمت خلق د اجر وثواب نه نه شی محرومیدې او په دې وجه هم ددې انفرادی خدمت تذکره اوکړې شوه چه کوم خلق د اجتماعی خدمت خلق فریضه ادا کوی،بخپله دهغوی د ذات نه ددې انفرادی خدمت عکاسی نه کیږی نو داهم صحیح نه ده۔حقیقت دادې چه صرف د اجتماعی ډهانچې په اودرولو سره دخدمت خلق حق نه ادا کیږی۔ ترڅو پورې چه خپل ځان کښې د خدمت عملی جذبه پیدا نه کړې۔د قرآن وسنت نه همدا معلومیږی۔

## خدمت خلق: په اجتماعی طورباندې:

دخدمت خلق کار لره په اجتماعی طور باندې دکولو ترغیب په قرآن مجید کښې ورکړې شوې دې چرته چه هم د یحُضُّ لفظ راغلې

دې، دتَحَٰضُّونَ لفظ استعمال شوې دې د وَتَوَاصَوۡا بِالصَّبۡرِ وَتَوَاصَوۡا بِالۡمَرۡحَمَةِ لفظ راغلې دې.....په دې ټولو مقاماتو باندې داجتماعی کار ترغیب ورکړې شوې دې۔هم په دې طریقه باندې په سورة عصر کښې دصبر او دحق د وصیت حکم ورکړې شوې دې په کوم سره چه مفسرینو د پوره نظام خلافت قیام ضروری ګرځولې دې۔ تَوَاصِی بِالۡحَقِّ او تَوَاصِی بِالصَّبۡرِ دپاره ضروری دی چه دحکومت پوره نظام قائم وی۔ په دې ټولو مقاماتو باندې اجتماعی کوشش طرفته صفاصفا اشاره ده۔

په هغه زمانه کښې د شعبو په جوړولوسره یو منظّم کار خو به ریاست کولو،خو اوس معاشره خوره شوه،مختلفې ډلې په وجود کښې راغلې۔د وخت تقاضا ده چه یوځاې په اجتماعی طور باندې منظّم کار اوکړې شی۔

## داجتماعی کار نوعیت:

دخدمت خلق یو جامع تصور دې۔دا هم د الله د بندګی او عبادت په شان یوه فریضه ده چه پکښې هریو له حصه اخستل پکاردی،بعضې کارونه په منظّم طورباندې دکولو دپاره شعبې قائمیدی شی او په یوځاې دکارکولو سوچ کیدې شی۔ ددې دپاره منصوبې هم جوړیدې شی۔ ددې نوعیت ډیرکارونه دی چه ټول دخدمت خلق په تعریف کښې راځی۔دمثال په طور هغه ټول کارونه په کومو سره چه :

- دخلقو مسائل حل کیږی۔
- یتیمانو حاجت مندو ته سهاره ملاؤ شی۔
- دکومو خلقو ښځونه چه دغلامانو په شان دخلقو په لاسونو کښې انختې وی دهغوی ښځونه آزاد شی۔

- دکوم قرض دارکسانو څښونه چه دقرض دبوج په وجه سره ښکته وی،دهغوی دسر نه دقرض بوج لرې کړې شی۔
- بې روزګاره ته روزګار ملاؤ شی۔
- دقوم وملت،محلې علاقې په اجتماعی طورباندې خدمت اوکړې شی۔

داټول داسې قسمه کارونه دی چه په یوځاې کولو سره په منظّم طورباندې کول پکار دی۔ځکه چه په اجتماعی طور باندې کړې شوې کارونه په انفرادی طور باندې د کړې شوې کارونو نه لس ګنا زیاتیږی۔کله چه خلق یوځاې کینی نو ډلې جوړیږی،تنظیم جوړیږی۔ دتنظیم جوړولو مقصد همدا وی چه یو او یو یوځاې یولس شی۔یو او یو یوځاې کیدو سره د دوؤ کوششونه د دوؤ برابر نه وی بلکه دیولسو دکوشش برابر شی،نوبیادتنظیم مقصد پوره کیږی۔کوم څیزونه چه اَضْعَافًا مُّضَاعَفَا،څوګناه زیاتیږی نو هغه په اصل کښې په یوځاې کیدو کار کولو سره زیاتیږی۔خو یوځاې کیدو سره کار کولو لره اصل کار ګڼړل صحیح نه دی۔ دغه شان داهم صحیح نه ده چه مونږ په کور کښې کیناستو او خیرات مو اوکړو،اوخلقو نه مو تپوس اوکړو بلکه انفرادی او اجتماعی دواړه قسم خدمت کول ضروری دی۔

## د اجتماعی کار ترغیب او خپل مینځ کښې امداد:

دا ضروری ده چه خلق جمع شی،یوځاې کینئ،محلې والو لره یوځاې کړئ،نورو لره راوغواړی او یوځاې کیدو سره دخپلو مسئلو حل کولو کوشش اوکړئ۔ کچرې ټول یوځاې کیدو سره دا کار اوکړی نو دا کار ځومره خوریدې شی۔ په خپل خپله محله کښې څه خلق

اودریږی او اوګوری چه کوم کوم خلق ضرورت مند او حاجت مند دی او ددوی ضرورتونه څه دی،ددې نه پس چه کوم خلق ددوی ضرورتونه پوره کولې شی،هغوی سره رابطه اوکړې شی،او هغوی ته ترغیب ورکړې شی چه هغوی دخپل کمزورې رونړو امداد اوکړی۔ په دې لړ شان کار کښې به ډیر برکت وی او لوې کار به اوشی۔

خلق خو په تلاش کښې وی چه څوک مستحق ملاؤ شی اوهغه ددوی مدد اوکړې۔ کچرې دمحلې معتبرخلق ولاړ وی، وائی چه مونږ پیژنو چه فلانې یتیم دې،کونډه ده او هغه دامداد مستحق دی نوددې کلی او محلې نه به داسې خلق ملاؤ شی چه په خوشحالئ سره مخکښې شی او کار اوکړی۔ په هر کلی او محله کښې داسې خلق وی چه مالداره وی۔ ضرورت ددې خبرې دې چه هغوی ته اورسیدلې شی او دهغوی نه مال واخستلې شی او په هغه کلی کښې په فقراء او مسکینانو باندې په اخلاص سره تقسیم کړې شی۔ په خدمت کښې دخدمت هم دا یو اصول دې چه په کلی کښې کوم خلق د وس خاوندان او مالدار وی،دهغې نه وصولول او محتاجو او فقیرانو کښې تقسیم کړې شی۔ دا کار دزکوة نه علاوه هم کیدې شی۔خلق زکوة اخلی اوپه دې انتظار کښې ناست وی چه مونږ ته مستحق نه ملاویږی۔ کچرې خلقو سره صرف رابطه اوکړې شی نوهغوی دامداد دپاره تیاریږی او ددې دپاره بنیادی کار دمسجد او علماؤ نه کیږی چه هغوی دخلقو د دې ذمه دارې په حوالې سره ذهن سازی اوکړی او ددې کار دپاره په مسجدونو کښې کمیټئ جوړې کړې شی۔

نن هم په مسلمانانو کښې دبعضې څیزونو په باره کښې راسخ تصور موندلې شي چه دا د ''نیکۍ کار'' دې مثلاً یتیم خانه جوړول، کوهی کنستل،مسجد جوړول و غیره،په دې حوالې سره دهغوی په زړه کښې لویه جذبه ده۔ په حدیث کښې دی چه چاپه دنیا کښې مسجد جوړکړو هغه په جنت کښې کور جوړ کړو،خلق د مسجد جوړولو دپاره په کهلاؤ زړه سره چنده ورکوی۔د مسلمانانو کوم ښارته چه لاړشې نو لوې لوې عالیشان مسجدونه به درته ملاؤشی، دهغې په تعمیر کښې به دبهر نه یو پیسه هم نه وې لګیدلې،ټول هرڅه مسلمانانو دځپل جیب نه ورکړې وی،هغوی ددې کار دپاره پیسه ورکوی او په لکهونو لګوی،په دې وجه چه هغوی ته یقین وی چه په دې کښې اجروثواب دې او صحیح ځاې باندې پیسه لګی۔ په دې طریقه باندې کوهی کینی۔داهم یو داسې کار دې چه مسلمان پوهیږی چه دا د ډیر ثواب کار دې،مسلمانان سبیل لګوی په دې وجه چه هغوی پوهیږی چه په تږی باندې اوبه څکوَل د ډیر ثواب کار دې۔

دنیکۍ او خدمت خلق نورهم ډیر کارونه دی۔ کچرې ددې اهمیت، فضیلت او دهغې دپاره الله او رسول چه کوم اجرونه خودلی دی هغه خلقو ته اوخودلې شی نویقیناًخلق به په دې لاروکښې په کهلاؤ زړه سره خرچ کړی۔ کچرې هغوی ته اوخودلې شی چه دفلانی کار څومره اجروثواب دې،څومره صدقه جاریه ده یا کوهې اوکنستلې شی نو چه کوم تږې ددې نه اوبه څکی،دقیامت پورې به دکوهی نه تاسوته ثواب ملاویږی،او ستاسو اُور به یخیږی،په جنت کښې به اُونې راخیژی،میوې وریورې لګی..... کچرې داسې خبره اوکړې شی نو هغه به وائی چه ښه ده زه په کوهی کنستلو کښې ۱۰۰ روپې ورکولې شم۔

داسې په اجتماعی کوششونو سره کوهی کنستلې شی۔ د نهر صفائی کیدې شی،دمحلې او علاقې صفائی کیدلې شی،ډیرکارونه کیدې شی۔ کچرې لاره ټیک نه وی نو تاسو وئیلې شې چه مونږ رایوځاې شو لاره ټهیک کولې شو۔لس کسان کدال راواخلی اودریږی چه مونږ لاره صفاکوو،د لارې نه تکلیف ورکونکې څیز لرې کولو باندې هم دجنت زیرې ورکړې شوې دې۔ کچرې څوک په کدالې سره لاره ټهیک کړی،دخلقو دپاره تګ راتګ آسان شی نو دا زیرې دهغه دپاره هم دې۔کچرې په دې طریقه دخلقو رهنمائی اوکړې شی نو داڅنګه ممکن ده چه مسلمانان دهغې دپاره رامخکښې نه شی۔

په دې باندې قیاس کووکچرې اوکتلې شی نو ډیر داسې اجتماعی صورتونه دی چه په هغې سره دخدمت خلق کارونه کیدې شی۔ کچرې عزم اوکړې شی نودا کار په ډیره لویه پیمانه باندې کیدې شی۔

## د نیت صحیح والې:

په دې حوالې سره آخری خبره داده چه په دې ټول کارکښې کچرې اجر دې نوهغه صرف په دې صورت کښې چه کار صرف د اللّٰه دپاره اوکړې شی۔ کچرې دا کارددې دپاره اوکړې شی چه خلق زما شکرګزار او احسان اومنی، زمونږ تعریف اوکړی،مونږ ته ووټ راکړی..... ممکن ده چه دا ټولې فائدې حاصلې شی،خو اجر ضائع شو۔په دې وجه چه اجر خو صرف په دې صورت کښې دې چه نیت دا وی :

إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنْكُمْ جَزَآءً وَّلَا شُكُوْرًا۔ إِنَّا نَخَافُ مِنْ رَّبِّنَا يَوْمًا عَبُوْسًا قَمْطَرِيرًا۔

[الدهر :۹،۱۰]

''تاسو باندې صرف دالله په خاطرباندې خورَوو،مونږ نه ستاسو نه څه بدله اخلو نه شکریه،مونږ ته خو دخپل رب نه دهغه ورځې دعذاب یره ده چه دسخت مصیبت یوه انتهائی اوږده ورځ وی''۔

کچرې زمونږ نیت ددې نه علاوه نور هیڅ نه وی چه څه خدمت کوو،خوراک خورَوو،مُسکی کیدو سره خبره کوو، او دکهجورې ټکړه راوباسو ورکوو،دا صرف د الله د رضا او د آخرت دنجات دپاره وی نو اجر دې، نو که نیت دا وی نو نورې فائدې به هم څو ګنا زیاتې شی۔ او که دانیت نه وی نوتاسو به ناست ئې او دا الزام به ورکوئ چه مونږ خو دومره کار کړې دې خو ددې نه باوجود هم خلق مونږ ته ووټ نه راکوی،نورو ته ورکوی۔دوی زمونږ تعریف نه کوی وغیره داتجربه چه تاسو ته کیږی او باربار کیږی چه خلق خبره نه اوری،مونږ سره مرسته نه کوی،زمونږ دپاره نه اودریږی،داهم دنیت دخرابی نتیجه ده۔ ستاسو نیت ددې نه علاوه نورهیڅ نه دې کیدل پکار چه صرف الله خوشحاله کول دی۔ زمونږ په چاباندې څه احسان نشته دې،چه په هغه باندې زباتل وی یا ئې په مونږ باندې احسان نشته دې۔چه بدله ئې خلاصه کړو،صرف د الله رضا او دهغه خوشحالول مقصودکیدل پکار دی۔په قرآن مجید کښې دی۔

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْرِي نَفْسَهُ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللهِ۔ [البقرہ: ۲۰۷]

''بل طرفته په انسانانوکښې داسې هم څوک شته چه دالله تعالی په رضاکښې خپل ځان هم قربانوی''۔

د الله تعالی د رضاپه تلاش کښې،دڅه جزاء او شکرګزارئ دتوقع نه بغیرصرف د آخرت د عذاب نه د بچ کیدو دپاره د انسانانو خدمت کول،

نیت صرف دا کیدل پکار دی۔ ددې اجر به هم په آخرت کښې پوره ملاویږی اوپه دنیا کښې به هم لوې لوې نعمتونه حاصلیږی۔ ددې خدماتو او کاوشونو په ذریعې سره چه کوم اجتماعی برکتونه او اثرات چه تاسو غواړئ یعنی دعوت دین،غلبه دین او دعوامو رجوع، هغه به هم ان شاء الله په دې سره ښکاره شی۔ خو ددې بنیادی شرط همدا دې چه دخدمت خلق کوم کار هم اوکړی،هغه بس په دې نیت سره اوکړی چه زمونږ نه خوشحاله شی،مونږ د هغه دعذاب نه بچ شو او په آخرت کښې د بندګانو په ځاې دالله تعالی نه اجر ملاؤ شی۔ بندګان چه کوم هم ستاسو احسان مند وی،ستاسو تعریفونه اوکړی هغه ټول خو به دلته ختم شی۔چرته چه تاسو خاورو ته لاړې ستاسو تعریفونه ختم۔په څه چه تاسو خوشحاله شئ،خوند مو واخستلو،څه به هم تاسوسره نه ځی،صرف نیت به تاسو سره ځی۔

د الله تعالی د رضاپه نیت سره چه انسان څه هم کوی هغه غټیږی غټیږی دومره لوې جنت جوړ شی دکوم چه تصور نه شی کیدلې۔نیت په ظاهره معمولی غوندې خبره ده،هم هغه وړوکې غوندې نیت،چه دا کار صرف دالله تعالی دپاره دې۔بیاالله تعالی چه ددې په بدله کښې کوم اکرام کوی دهغې نقشه داسې راښکلې شوې ده:

فَوَقٰهُمُ اللّٰهُ شَرَّ ذٰلِكَ الْيَوْمِ ۔۔۔ وَكَانَ سَعْيُكُمْ مَّشْكُوْرًا۔ [الدهر: ۱۱تا۲۲]

''بس الله تعالی به هغه لره دهغه ورځې دشر نه بچ کړی او هغه ته به تازګی او خوشحالی ورکړی اودهغه دصبرپه بدله کښې به هغه ته جنت او ریښمی لباس ورکړې۔ هلته به په اوچتو مسندونو باندې تکیه لګیدلې ناست وی۔نه به هغه لره د نمر ګرمی تنګوی نه د ژمی یخنی۔

دجنت سيورې په هغه باندې راخورشوې سيورې کړې وی،اودهغې ميوې به هروخت دده په وس کښې وی (چه ځنګه غواړی هغې لره راوشُوکوی) دهغوی مخې ته به دسپين زرو لوښی او دشيشې پيالئ به ګردش کوی،شيشې به هم هغه چه دچاندې دقسم نه وی،او هغې لره به (دجنت منتظمينو) د ټهيک اندازې مطابق ډکې کړې وی،هغوی ته به دهغه ځاې دداسې شرابو جام څکوَلې شی چه په هغې کښې دسونټ ګډون وی،دابه دجنت يو چشمه وی چه هغې ته سلسبيل وائی۔ دهغوی دخدمت دپاره به داسې هلکان رامنډې وهی چه هميشه به ځوانان وی۔ ته چه هغوی ته اوګورې نو دښائست اوصفائې دوجې نه به اوګنړې چه ګويا ملغلرې دی چه خورې شوې دی۔ هلته چرته چه هم تاسو نظر اچوئ بس نعمتونه نعمتونه او ديوې لوې باچاهئ سروسامان به تاسو ته په نظر راځی ۔په هغوی باندې به د ريښمو شين لباس او اطلس او ديباج جامې وی،هغوی ته به دچاندئ بنګړی اچولې شی،او د هغوی رب به هغوی باندې نهايت پاکيزه شراب اوڅکَوِی۔ او هغوی ته به اوئيلې شی چه دا ستاسو جزا او ستاسو کارګزاری قابل قدر ګرځولې شوې ده“۔

دا ټول هرڅه صرف په هغه صورت کښې حاصل کيدې شی چه :

لَا نُرِيدُ مِنكُمْ جَزَآءً وَّلَا شُكُورًا۔ [الدهر:۹]

”مونږ نه ستانه څه بدله غواړو نه شکريه“۔

اِنَّا نَخَافُ مِن رَّبِّنَا يَوْمًا عَبُوسًا قَمْطَرِيراً [الدهر:۱۰]

”مونږ ته خو د خپل رب د هغې ورځ د عذاب يره ده چه دسخت مصيبت به انتهائی اوږده ورځ وی“۔

يعنی مونږ ته خو دخپل رب نه دهغې ورځې يره لګيدلې ده کومه ورځ چه ډيره سخته،نحوست والا اود غم او دفکر ورځ ده۔

مونږ ګنړو چه مونږ کوم کار کوو دا دبندګانو خدمت نه دې بلکه دالله خدمت دې۔همدا دالله بندګی ده۔دا دالله حق دې دبندګانو حق نه دې۔ او کچرې تاسو دبندګانو په حوالې سره هغه کار نه وی کړې نو دهغې دپاره بندګان نه بلکه الله تعالی به د محشر په ورځ پخپله ولاړ وی او ستالمن به نيسی،اوستاپه ګريوان کښې به لاس واچوی چه داکار دې ولې نه وو کړې؟

**د خپل ذات نه شروع :**

د حقوق العباد تعلق د ټولو نه مخکښې د بنده دخپل ذات سره وی۔ دا هغه حقوق دی چه په يو بنده باندې د هغه مور پلار، رورخور،عزيزانو رشته دارانو ګاونډيانو او بيا د ټول انسانيت دی۔ خدمت خلق،هم دحقوق العباديوه حصه ده۔په قرآن کريم کښې دايمان والو دخصوصيات ذکر دارنګه کړې شوې دې :

"هغوی په خپل ځان باندې نورو ته ترجيح ورکوی خواه هغوی پخپله ځومره ضرورت مند ولې نه وی"۔ [الحشر:۹]

الله تعالی انسان په بې شماره نعمتونو سره نمانځلې دې۔ هغه ته نه صرف دا چه سترګه،پوزه،زړه او دماغ او لاس خپې ورکړې دی،بلکه صحت، دولت او رزق ئې هم ورکړې دې۔ هغه ته ئې دمورپلار په شان مينه ورکونکی هستيانې ورکړې دی،دمحبت په جذبوسره مالا مال خويندې رونړه، خاله، ماماګان او نياګانې نيکونه دا قسمه رشتې ئې جوړې کړې۔ په کائنات کښې ئې دهغه دضرورت دپاره حيوان،اونې

بوټی، اوچه يا درياب زمکه آسمان مال و زر سره اونمانځلو۔ الله تعالی چه کله دومره نعمتونه ورکړی دی نوپه دې نعمتونو باندې ئې دنورو خلقو حقونه هم مقررکړی دی۔ که دولت دې نو په دې کښې دغريبانو حصه هم ده چه د زکوة صدقاتو او خيرات په صورت کښې ئې ادا کول لازمی دی۔ځنګه چه په دولت باندې زکوة دې،دغه شان بدنی زکوة ئې هم فرض کړې دې او هغه دادې چه انسان خپله بدنی توانائی دنورو په خدمت کښې خرچ کړی۔ نبی عليه السلام اوفرمائيل : هره ورځ چه کله نمر راخيژی نو د انسان په هر جوړ باندې صدقه واجب کيږی۔ او که ته د دوؤ کسانو په مينځ کښې په انصاف سره فيصله اوکړې نو دا صدقه ده،که ته ديو کس په سوريدو کښې مدد اوکړې نو دا صدقه ده،ته که هغه په خپل لاس سره په سورلئ باندې سور کړې ياپه خپل سورلئ باندې دهغه سامان کيږدې نوداهم صدقه ده،کلمه طيبه وئيل هم صدقه ده،دمونځ دپاره چه جمات ته کوم قدم اخلې نو صدقه ده،که ته څه تکليف ورکونکې څيز دلارې نه اخوا کړې نودا صدقه ده۔ [مشکوٰة شريف]

د خدمت خلق داکار په اصل کښې دخپل ذات نه دشروع کولو دې،خو په خپل ذات باندې د اودريدو نه دې،بلکه د خپل ذات نه مخکښې کيدو سره ټولو لره رايوځاې کول او منظّم کول دی چه ټول په دې کارخير کښې شريک وی۔ کچرې ستاپه کوشش سره څوک بل سړې دخدمت خلق په دې کار کښې شريک شی نو بغيرددې نه چه دهغه په اجر کښې کمې اوشی تاته به هم دومره اجر ملاويږی۔دا هم د الله درحمت عجيبه مظاهره ده۔ مثلاًستاپه وينا سره چا په کلی کوهې

اوکنستلو نو صرف هغه ته به ثواب نه ملاویږی،بلکه ترقیامته پورې به تاته هم ثواب ملاویږی۔په یوحدیث کښې د نبی علیه السلام ارشاد نقل شوې دې چه :

مَنْ دَلَّ عَلٰی خَیْرٍ فَلَهٗ اَجْرُ مِثْلِ فَاعِلِهٖ

''چاچه نیکئ طرفته خودنه اوکړه دهغه اجر دکوؤنکی په شان دې''۔

دهغه په خپل اجر کښې به څه کمې نه راځی۔دالله تعالی په خزانه کښې څه کمې نشته دې چه چاله ورکړی نو حساب کولو سره کم کړی،یایو ته ورکړی،نو دبل نه کټ کړی،نا څومره چه یو له ورکوی دومره بل له هم ورکوی۔ بل څوک رایوځاې کولو سره په کارکولو سره،خپل اجر څو چنده زیاتیږی۔دا داسې حساب دې چه۔
یوباچا دیو حساب دان نه تپوس اوکړو زه تاته څه درکول غواړم څه درکړم؟
هغه اووئیل: حضور ماته دڅه څیزضرورت نشته دې،دالله ورکړه اوستاسو ورکړه، ټول ماسره شته۔ باچا اووئیل بیاهم زه تاته څه درکول غواړم۔هغه اووئیل بیاداسې اوکړه چه دشطرنج یو بساط واخله چه په هغې کښې ۶۴خانې وی اوپه هغې کښې په اوله خانه کښې د وریژو دوه دانې کیږده بیاپه هرخانه کښې ددې لس چنده ږده او مخکښې ځه۔ داسې تاسو صرف ۶۴خانې د وریژو نه ډکې کړه،دا زما دپاره کافی دی۔ کله چه حساب اوکړو نو معلومه شوه چه کچرې دوؤ لره ۶۴چنده ګنا اوکړې شی نو هیڅ یو حساب دان بغیر دکمپیوټر نه ددې حساب نه شی لګولې۔دغه شان کله چه الله تعالی اووائی :

فَیُضٰعِفَهٗ لَهٗۤ اَضْعَافًا کَثِیْرَةً [البقره:۲۴۵]

''نو زیات به کړی الله تعالی (ستاسو صدقې لره) ډیره زیاته ''۔

نو مونږ سره دالله تعالی د اجروثواب د شمارکولو څه حد نشته دي۔ څوک حساب نه شی کولې چه په اجتماعی کارکولو سره څومره اجر زیاتیږی۔

دخدمت خلق کار دومره قدرې د اهمیت حامل دې چه کله مونږ ددې کار په ذریعې سره دعالم انسانیت دپاره د الله تعالی دنبیﷺ په شان رحمت جوړشو، نو هغه وخت به زمونږ هغه خوب پوره شی،چه مونږ ئې په دنیا کښې ددین ددعوت ددین دغلبې او دهغې د اقامت دپاره وینو۔ان شاء الله۔

او همدا انفرادی او اجتماعی خدمت خلق دقرآن پاک د درې مقصدونو نه یواهم مقصد دې ګویا چه دقرآن پاک دریمه حصه په خدمت باندې لګیدلې ده۔

دقرآن مفسرحضرت مولانا احمدعلی لاهوری رحمة الله علیه به فرمائیل۔ زه سټیشن ته اورسم،ګاډئ د تلو دپاره تیار ولاړ وی،زما یو قدم په پائیدان باندې وی او دویم قدم په پلیټ فارم باندې وی،ګارډ سیټی وهلی وی،ګاډې روان شی،او په دې دوران کښې یو سړې په منډه راشی او آواز راکړی احمدعلی لاهوری،دالله قران باندې مې پوهه کړه نو بیا ځه۔حضرت لاهوری به فرمائیل،زما دویم قدم به پائیدان ته روستو رسی،زه به راتلونکی په پوره قرآن پوهوم بیابه ځم۔

چاتپوس اوکړوچه حضرت په پوره قرآن باندې به ئې په دومره لږ وخت کښې څنګه پوهه کړې۔ وې فرمائیل،ها د قرآن خلاصه درې څیزونه دی رب راضی کړئ په عبادت سره، شاه عرب ﷺ لره راضی کړئ په اطاعت سره،او دالله تعالی مخلوق راضی کړئ په خدمت سره، یعنی عبادت دالله ،اطاعت د محمدمصطفی،او خدمت د خلقِ خدا۔

امام انقلاب حضرت مولاناعبیدالله سندھی رحمة الله علیه به فرمائیل چه انقلاب به څنګه راځی او خلافت به څنګه قائمیږی؟ ددې طریقه او ترتیب دادې چه اول به دقرآن تعلیم او فهم عام کول وی دې دپاره چه خلق په قرآن باندې پوهه شی او د قرآن فهمئ ابتداء به ماشومانوته دقاعدې خودلونه کیږی۔

د رجوع الی القرآن او فهم قرآن نه پس به دخلقو خدمت کول وی۔خدمت خلق کولوسره به انقلاب راځی او خلافت به قائم شی همدا ترتیب دې۔

دا خدمت خلق دمسلمانانو داجتماعی ذمه دارونه یوه اهمه ذمه داری ده۔ ځکه چه په حیثیت دمسلمان په هرمسلمان باندې دوه ذمه داریئ عائدکیږی ۔یو انفرادی او بله اجتماعی ۔

انفرادی،اصلاح دعقائدو،عباداتو،اخلاقو،معاملاتو، او معاشرت ده، او اجتماعی ذمه داری دعوت دین،اقامت دین، جهاد، خدمت خلق او تنظیم دې ۔

هم په دې تناظرکښې دیوداعی او تحریکی کارکن دپاره هم دا ضروری دی چه هغه دخدمت په جذبې سره دمعاشرې خلقولره خپل دعوت حق طرفته مائله کړی۔ په دې خدمت سره به په معاشره کښې خپل مقام جوړ کړی،نو دخلقو به په ده باندې اعتماد جوړ شی او خلق به ده لره خپل رهنما او امام اومنی۔ بیابه خلق داسې داعی او کارکنانو ته خپل زړه هم ورکوی ۔ نوبیا هغه داعی د دعوت حق هغه تخم دهغوی په زړه کښې کرلې شی۔

او داسې په معاشره کښې یو صالح انقلاب راشی چه په هغې باندې د نبی علیه السلام او صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعین ژوند ګواه دې۔

## د خدمت خلق کار:

مونږ له پکار دی چه نن دماده پرستۍ په دې دور کښې کله چه انسان دمخکښې نه زیات خودغرضه شوې دې،ده ته دنورو خلقو د درد احساس نه دې پاتې شوې،هغه صرف دخپلې ښیګړې سوچ کوی-په دې بناء باندې په معاشره کښې په زوره اخستل،بې انصافي او دغریب بې کسه حق وهلې کیږی،او دیو بې چینۍ او بې قرارۍ دور دې-کچرې مونږ په اسوه رسول ﷺ باندې عمل کولو سره دخدمت خلق جذبې ته ترقي ورکړو اوکوم حده پورې چه مونږ دنورو په کار راتلې شو څومره چه هم زمونږ په وس کښې وی د نورو خدمت اوکړو-څومره څه چه زمونږ په اختیار کښې وی د نورو دښیګړې سوچ اوکړو-په دې معاشره کښې ښه والې به پیدا شی اوکه دا جذبه چرې عام شی نو پوره معاشره به د سکون او محبت په لاره روان شی-

۱- دټولو نه مخکښې دخپل مورپلار،رونړو خویندواو نورو رشته دارانو چه ترکومه حده پورې کیدې شی خدمت کول پکار دی-د چاڅه کار پیښ شی نومخکښې ددې نه چه هغه څخپله اووائی-تاسوڅخپله لاړشۍ او حتی الامکان دهغه خدمت اوکړۍ-

۲- دخپلو ګوانډیانو خیال اوساتۍ-هغوی ته تکلیف مه ورکوۍ-

۳- خپل ماتحت او نوکرانو سره ښه سلوک کوۍ-

۴- دچا زړه مه آزاروۍ چاسره په سخته لهجه کښې خبرې مه کوۍ،چالره رټۍ مه او بغیردڅه وجې نه غصه مه کوۍ-

۵- په عام ژوندکښې همدا خدمت خلق دې چه سحرنه ترشپې پورې چه چاسره هم واسطه پریوځی،هغه سره په ښائسته لهجه کښې خبرې کوۍ-چالره هم دخپل ځان نه کم مه ګڼړۍ-

۶- چاته څه ضرورت پیښ شی،څوک قرض غواړی نو هغه ته قرض ورکړۍ-

۷۔ که کور ته څوک میلمه راشی هغه سره ښه سلوک اوکړئ، محبت سره خبرې اوکړئ د وس مطابق خاطرمدارت اوکړئ۔
۸۔ څوک دچا پته معلوموی هغه ته صحیح پته ورکړئ۔
۹۔ که څوک تږې دې،مسافردې،اوبه اوغواړی نو هغه ته اوبه ورکړئ۔
۱۰۔ کچرې څوک اوږې خوراک اوغواړی نو هغه ته روټئ یا کوم دخوراک څکاک څیز چه هم اوغواړی اوکوم څیز موجود وی ورکړئ۔یادساتئ اوږی ته په مړه خیټه خوراک ورکول دټولو نه بهتر صدقه ده۔
۱۱۔ که چرې تاسره څه قسم هم ګاډئ وی او موسم خراب دې په سړک باندې د مسافرو رش جمع دې که تاسو څو کسانو لره سواره کول او منزل مقصود ته دې رسولې شو نوپه دې نیک کار کښې تاسوته تاخیر نه دی کول پکار۔
۱۲۔ کچرې تاسو په هغه خوش نصیب خلقوکښې ئې چه د چا په کور ټیلی فون موجود دې نوتاسو ته دهغه خلقو خیال ضرور ساتل پکاردی کوم چه ددې سهولت نه محروم دی،کچرې تاته دچا پیغام راورسی نو سمدست هغه سړی ته ئې اورسوئ،ممکن ده چه بعضې وخت ستادپاره دا د پریشانئ باعث وی خو دا خیال اوساتئ چه داسې ته دچاپه کار راغلې نو ډیر اجر به حاصل کړئ۔
۱۳۔ که په محلّه کښې دچا فون ستاپه توسط سره راځی نو متعلقه سړی خبر کړه دې دپاره چه هغه ضروری خبره اوکړی۔ په دې تالره سترې کیدل نه دی پکار۔
۱۴۔ کچرې ستاپه کور کښې ټیلی فون نشته او تا د محلّی د چا ټیلی فون نمبرخپلو دوستانواو رشته دارانو ته ورکړې دې نوستافرض چه صرف دانتهائی ضرورت په وخت دنورو فون استعمال کړې بغیر د څه وجې نه ډیروخته پورې ګپونه لګول فضول خبرې کول، نورو لره دتنګولو په شان دی۔

۱۵۔ دوستانو سره ښه سلوک کوئ،چاسره هم په بدمزاجئ سره مه پیش کیږئ۔

۱۶۔ کچرې تاسو تعلیم یافته ئې په محلّه کښې چاان پړ ته څه خط یامضمون لوستل وی نو تاسو ورته اولولې او واوروئ۔

۱۷۔ کچرې دچا ان پړ انسان څه خط لیکل وی یاڅه قسمه فارم ډکول وی نو په شفقت او محبت سره دهغه دا کار اوکړئ۔

۱۸۔ کچرې دمحلّې څوک ماشوم د پړهائې په سلسله کښې تانه په څه مضمون باندې ځان پوهول غواړی تاسوته هغه مضمون راځی نو لږ وخت دپاره کینئ او هغه پوهه کړئ۔

۱۹۔ کچرې څوک ښځه سلائی کړهائی باندې پوهیږی او دمحلّې څوک ماشومه یا زنانه ستانه څه زده کول غواړی نو په سهولت سره پوهه کول پکار دی۔

۲۰۔ کچرې تاته دڅه معاملې په سلسله کښې څه معلومات وی او تانه څوک تپوس اوکړی نو ضرور ئې ورته اوښائې خواه دفتری امور وی یا کورنې څه کارمار وی۔

۲۱۔ کچرې تاسو په بس کښې سفرکوئ او هلته رش ډیر وی تاسوته سیټ ملاؤ شی تاسو وینې چه چاپه غیرکښې ماشوم نیولې دې یا څوک ضعیف یا بیمار ولاړ دې نوتاسو پخپله اودریږئ او هغه ته دناستې موقعه ورکړئ۔

۲۲۔ کچرې تاسره په سیټ باندې ماشوم ناست وی نوتاسو خپل ماشوم په غیرکښې کینوئ او ضعیف یا بیمارته سیټ ورکړئ۔

۲۳۔ دکور د ساتلې شوې ځناورو د لوږې تندې خاص خیال ساتئ، هغې ته په وخت دانې اچوئ د اوبو څکلو انتظام ئې کوئ۔

۲۴۔ ماشومانو سره په شفقت سره پیش کیږئ،بغیر د څه وجې نه هغوی مه رټئ۔

۲۵۔ دساتلې شوې ځناورولره د موسم د اثراتو مثلاً باران يخنئ ګرمئ، نه دمحفوظ کولو مناسب انتظام اوکړئ۔ داسې نه وی چه دباران يا يخنئ په موسم کښې بهر په چغو چغو پخپله هم تکليف برداشت کړی او دمحلّې والو هم خوب برباد کړی۔

۲۶۔ دګرمئ په موسم کښې دمرغو دپاره که په چهت باندې يا په څه کهلاؤ ځاې کښې په څه لوښی کښې اوبه کيخودلې شی نو ډيرې ترږې مرغې خپله تنده ماتولې شی۔ څنګه چه مخکښې حديث کښې تيرشوې دی چه ديوځناور سپی باندې اوبو څکوَلو سره ديو سړی مغفرت اوشو۔

۲۷۔ بغير دڅه سبب نه دوړو مرغو ښکار کول،هغوی ته په څه طريقه تکليف رسول ګناه ده،دخپل ذات نه هيڅ قسم ساه لرونکی لره سوزول نه دی پکار۔

۲۸۔ کچرې تاسو طالب علم ئې ستاسو په کلاس څوک کمزورې طالب علم ستانه مدد اوغواړی نودهغه مدد ضرور اوکړئ۔

۲۹۔ کچرې يو کس دا اوګوری چه په سړک باندې يا په کوڅه کښې دوه ماشومان جنګ کوی نو په هغوی صلح صفائی اوکړه- هغوی دجنګ کولو نه منع کړه۔

۳۰۔ تاسو چه په کوم ځاې کښې هم ئې خواه دفترکښې،په سړک محله کښې،ياکورکښې،کچرې يو کس دبل چاسره زياتې اوکړو نو ته دمظلوم ملګرتيا اوکړه او د هغوی د جهګړې ختمولو کوشش اوکړه۔ د انصاف لمن مه پريږده ۔او دظالم ملګرتيا مه کوه،کچرې ته خاموشه شوې نو دظالم مخکښې ځی او دنورو حقونه غصب کولې شی۔

۳۱۔ د يتيم پرورش کونکې د ډير ثواب مستحق کيږی ديتيم ماشومانو ډير خيال ساتل پکار دی۔

۳۲۔ دغه شان دکونډو،مسکينانو امداد کولو هم ډير زيات هدايت

کړې شوې دې ـ
۳۳ـ دمعذور خلقو مثلاً د ړندو دلاس خپونه د محرومو خلقو خاص طورباندې خیال ساتل پکار دی،دهغوی مدد کول پکار دی۔
۳۴ـ دچابیمار عیادت کول سنت دی ـ
۳۵ـ دښیګړې په کارونوکښې مثلاً هسپتال،کوهې،مدرسه، سرې، کتب خانې او سړکونه جوړول،داټول کارونه په خدمت خلق کښې شامل دی۔ددې ټولو ملک وقوم ته ضرورت وی۔ دا څیزونه صدقه جاریه ده یعنی ترڅو پورې چه مخلوقِ خدا ددې نه فائده اوچتوی،ددې جوړونکو ته به ددې ثواب ملاویږی۔د وس خاوندانو له پکار دی چه دښیګړې په کارونو کښې په شوق حصه واخلی دې دپاره چه خلقو ته زیات نه زیات سهولیات ملاؤ شی۔
۳۶ـ دلویو کارونو فائدې په خپل ځاې دی، په وړو کارونو هم دنورو ښیګړه کیدې شی نوپه دې کارونو کښې تاخیر نه دی کول پکار۔ تردې پورې چه په کورکښې بعضې وخت څوک د اوبو څکلو دپاره اووائی یادڅه څیز د اوچتولو یا چرته د ایږدلو هدایت اوکړی،نوپه دې وړو وړو کارونو کښې سستی نه دی کول پکار۔
۳۷ـ په لاره تلو سره کچرې په څه ازغی یا کانړی باندې نظر پریوځی نوپه دې خیال سره چه په دې سره څوک زخمی نه شی۔ یاتکلیف اونه شی ـهغه یوطرفته کول پکار دی ـ
۳۸ـ کچرې په سړک باندې دڅه میوې پوستکې خصوصًا دکیلې پوستکې په نظر راشی،نوهغه اوچتول او دګند په ډبی غورزول پکار دی،چه په دې باندې دچا خپه اوه خوئیږی او څوک زخمی نه شی ـ
۳۹ـ چرته چه څه هم دنیکۍ کار وی ،دښیګړې کاردې شروع کړې شی، نوپه هغې کښې حصه اخستل پکار دی۔
۴۰ـ کچرې دخپل مسلمان رور دپاره مُسکې هم شې نودا هم یوه صدقه ده۔

خدمت خلق هم هغه ذريعه ده په کوم سره چه ښيګړې خوريږی بې غرضه بې لالچه کيدو سره دنورو خلقو مدد کول،د زړه د خوشحالئ ذريعه ده-په دې سره انسانی روح ته سکون ملاويږی او دنورو ضرورت پوره کيږی،بې سکونی او پريشانی ختميږی- دکوم قوم خلق چه د خدمت خلق په جذبې سره مست شی هغه قوم به خوشحاله او مطمئن وی او په روحانی طور باندې به هم خوشحاله وی- دا داسې نظام حيات دې په کوم کښې چه دفرد دنيوی او دينی ښيګړې پټې دی او داسې داسلام د ښائسته اصولولاندې ژوند تيرولو سره مونږ ددنيا او آخرت دواړو ښيګړې حاصلولې شو-

الله تعالی دې مونږ ټولو ته دخدمت خلق د زيات نه زيات شعور راکړی-آمين!

ابو معاو يه محمد اياز دُرا نی
جامعه تبليغ القرآن يوسف آباد پيښورښار
مارچ 2011ء ، ربيع الثانی1432ھ

# ماخذ ومراجع

☆ قرآن پاک

☆ جامع بخاری شریف — امام محمد بن اسماعیل بخاریؒ

☆ مشکوٰۃ شریف — شیخ ولی الدین محمد بن عبد اللہ خطیب تبریزی

☆ حقوق العباد کی فکر کریں۔ — مولانا ہارون معاویہ کراچی

☆ حقوق العباد کی اہمیت — مولانا محمد طیب کراچی

☆ معاشرت نبوی اور سائنس — حکیم طارق محمود چغتائی

☆ خدمت خلق کے انفرادی واجتماعی تقاضے — انجنیئر خرم جاہ مراد

☆ خدمت انسان اور بندگی رب — انجنیئر خرم جاہ مراد

☆ خدمت خلق — محترمہ عفت گل اعزاز

☆ اسلامی خطبات — مولانا مفتی محمد تقی عثمانی

☆ خطبات علی میاں — مولانا سید ابو الحسن ندویؒ